NATIONAL DEMOCRATIC INSTITUTE FOR INTERNATIONAL AFFAIRS

# د افغانستان د ۲۰۱۰ کال د ولسی جرګې د ټاکنو په اړه د ملی دموکراتیک انستیتوت د ټاکنیز ماموریت لمړنی وینا

**کابل د ۲۰۱۰ کال د سپتمبر ۲۰ نیټه**

دغه لمړنی وینا د ملی دموکراتیک انستیتوت د ټاکنیز ماموریت لخوا خپریږی له کومه چې خپل کار یې د ۲۰۱۰ کال د اګست میاشتې په لمړی نیټه د خپلو ۱۶۴ تنو افغان او بهرنی کتونکو په مټ چې له دیارلسو هیوادونو څخه استازیتوب کوي، پیل کړ. امنیتی ناخوالې د دې لامل شوې ترڅو کتونکی ونشی کولای د هیواد ځینې برخې تر خپل ماموریت لاندې راولي. خو له دې سره سره، انستیتوت وشو کولای ترڅو خپل کار د هیواد له ۳۴ څخه په ۳۰ ولایتونو کې ترسره او وتوانیده چې د ۷۰۰ رایې ورکولو له محلونو څخه د ټاکنو په ورځ کتنه وکړي. ملی دموکراتیک انستیتوت له کال ۲۰۰۲ څخه راپدیخوا په افغانستان کې کله چې طالبان له واک څخه لیرې شول خپل فعالیت د ولسواکو ټاکنو د ملاتړ په برخه کې پیل کړ. د دغه ماموریت مالی ملاتړ د امریکا د متحده ایالاتو د پرمختیایی ادارې (USAID) لخوا ترسره شو.

د ملی دموکراتیک انستیتوت کتونکو تر مخه د ټاکنو د ورځې خپل کار د یو لړ مرکو او سلا مشورو په ترسره کولو سره چې د کاندیدانو، افغان حکومت، د ټاکنو د خپلواک کمیسیون له چارواکو، د ټاکنو د شکایتونو د کمیسیون، د رسنیو له کمیسیون، سیاسی ګوندونو، د ښځو له فعالینو، د بشری حقونو له ادارو، افغان او بهرنیو خبریالانو او همدارنګه د یولړ د ډیپلوماتانو سره ، پیل کړ. د ټاکنو د ورځې څخه د مخه ، ملی دموکراتیک انستیتوت یو لړ تازه معلومات په منظمه توګه چې د ټاکنو د ورځې څخه تر مخه بهیر یې تر څېړلو څیړونو لاندې درلود، خپاره کړل. د دې برسیره، څارنیز ماموریت له خپلو نړدو اړیکو څخه چې د د ټاکنو د کورنی کتونکې نهاد سره یې درلودلې له کومه چې د ټاکنو په ورځ یې په زرګونو کتونکی یې په کار ګمارلی ؤ، ګټه پورته کړه.

د دغه ماموریت موخه داوه تر څو د نړیوالې ټولنې دوامداره ملاتړ د افغانستان له ولسواکه بهیر څخه په ډاګه کړی او خپل ناپیلې ارزونه د سپتمبر د ۱۸ نیټې له ټاکنو څخه برابره کړي. ملی دموکراتیک انستیتوت خپل فعالیتونه یې د افغانستان د قوانینو پر بنا او همدارنګه د ټاکنو څخه د څارنې لپاره د نړیوالې اعلامیې د اصولو سره سم،تر سره کړل له کومه چې انستیتوت پخپله د دغه سند له لاسلیک کونکو څخه ده.

**له کومه ځایه چې د ټاکنو لپاره تیاری د تیر کال د ولسشمریزو ټاکنو په پرتله ښه ترسره شوی وه ، دا به له وخت څخه تر مخه وی چې مونږ د افغانستان د اوسنی ټاکنو د کیفیت په اړه پوره قضاوت وکړو. د رایو جندولبندی اوس مهال د پیل کیدلو په حال کې ده، رسمی پایلې تراوس مهاله اعلان شوې ندی او د ټاکنو په اړه شکایتونه د جریان په حال کې دي او په کار ده چې د ټاکنیزو چارواکو لخوا ورته پاملرنه او رسیدنه وشي. د ټاکنو اړوند ستونزې د ناوړه ګټه اخیستنې په شمول چې ښایی په ناامنو او لاسرسی څخه په لرې پرتو سیمو کې ترسره شوې وي، کیدای شی چې د راتلونکو څو اونیو په درشل کې په ډاګه شی. د ملی دموکراتیک انستیتوت کتونکو د ټاکنو اړوند یو لړ جدی پیښې په خپلو سترګو لیدلی له کومه چې د ټاکنو په اړه تاوتریخوالی، د ټاکنو په مرکزونو او رایه ورکونکو باندې دحملو پر ترسره کولو باندې شاملیږی، خو د ابه ډیر ژر وی چې د ټاکنو پر پراخ انځور باندې د دغو پیښو د اغیزو په اړه خبرې وکړو.**

**دغو ټاکنو یو لړ په ځانګړي توګه هغه ستونزې او خنډونه چې د بهیر د توصیف او څرګندتیا، دغه راز هغه موارد چې د تقلب د مخنیوی لپاره کارنده ؤ، ښکاره او په ډاګه کړل. ځکه چې د سیالو کاندیدانو ترمنځ واټن په یوه نازک حالت کې وي، نو لړ شمیر رایې کولای شی چې د ځینو کاندیدانو د ټاکنو پر وروستنیو پایلو باندې اغیزې وکړي. نو له همدې امله دا څارونکو ته ډیره مهمه ته تر څو د رایو جندولبندی او د شکایتونو له بهیر څخه کوم چې د ټاکنو له ورځې څخه وروسته تر سره کیږي، له نږدې وڅاري. یواځې هغه وخت کولای شو چې د ټاکنو له بهیر څخه پوره او جامع ارزونه ولرو کله چې ټاکنیزې اداره پورتنی فعالیتونه بشپړه او ترسره یې کړي. په پایله کې باید وویل شی چې ملی دموکراتیک انستیتوت به په اوسنی وخت کې به خپله وروستنی څیړنه خپره نکړی او د پروسې په اړه خپلې مطالعې به نورې هم د راتلونکو ورځو او اونیو په ترڅ کې زیاتې کړي. ملی دموکراتیک انستیتوت به کیدلای شی چې له ټاکنو څخه یو لړ نورې ویناوې هم خپرې کړي. دغه راز کیدلای شی چې انستیتوت خپل وروستنی راپور به وروسته له دې چې پروسه په بشپړه توګه ترسره شوه ، خپور کړي. ملی دموکراتیک انستیتوت د احق خپله افغانانو ته خویندی بولی چې په پایله کې د پروسی داعتبار په اړه خپل قضاوت وکړي.**

**۱ - لنډه کتنه:**

تاوتریخوالی د هیواد په بیلابیلو سیمو کې د خلکو د پراخې برخې اخیستنې په وړاندې د یوه خنډ په توګه راڅرګند شو. خو سره له دې تر اوسه هم نشی کولای د بهیر په اړه پوره انځور مونږ ته را ښکاره کړي. دغه راز د افغانستان د ۲۰۱۰ کال ټاکنو دا هم په ډاګه کړه چې په میلیونونو افغانانو د کاندیدانو او د هغو د استازو په توګه، د رایو ورکونکو په توګه ، د کورنی ټاکنیزو څارونکو په توګه او د ټاکنیزو کارکونکو په توګه ، دې ته ژمن دی تر څو په ډاګه کړي چې ملی حکومت د دوی د ارادی څخه سرچینه اخلی. د هیواد په ډیرو برخو کې د مخ پر خرابیدو امنیتی و ضعیت او هم د یو لړ پراخو درغلیو کوم چې د ۲۰۰۹ کال په ټاکنو کې په ګوته شوې، دغه پورتنی کسان بیا هم په ډیر جرأت سره په ټاکنو کې برخه واخیسته او په دې توګه یې خپل شهامت او پریکړه د ددې لپاره چې ملت یې غواړي ترڅو د یوه ولسواکه راتلونکی په لور ودرومی، ثابته او ښکاره کړه.

سره د لوړ شمیر امنیتی پیښو کوم چې په هغو کې لږ تر لږه د ۳۰ مرګ ژوبلو موردونو راپور هم ورکړلی شو، خو افغانانو بیا بیا هم د هیواد په ډیرو برخو کې په پراخه کچه برخه واخیسته او خپلې رأیې یې وکارولی. دغه پراخه برخه اخیستنه د هیواد په شمالی، مرکزی او ختیځو ښاری سیمو کې ښوول شوی، خو ټیټه برخه اخیستنه د هیواد په سویلی او سویل ختیځو سیمو کې ښوول شوی دي. امنیتی ستونزې د دې لامل شوی تر څو د رای ورکولو په بهیر کې مرکز وتړل شی او یا خو بهیر وځنډوي. د رایې ورکولو کړنلاره په هغو ځایونو کې چې تر څارنې او کتنې لاندې راغلی ؤ، په ښه توګه پلی شو سره له دې چې په څو محلونو کې چې څارل شوی، د یولړ جدی ستونزو شاهد ؤ کوم چې په کړنلارې پورې یې تړاو درلود. سره له دې چې د تقلبی رایې ورکولو کارتونو اندیښنه چې له ټاکنو تر مخه تر بحث لاندې وه او د ټاکنو په ورځ دغه کارتونه ولیدل شول، په ډیرو ځایونو کې ټاکنیزو کارکونکو او امنیتی ځواکونو وکړای شول چې ډیرژر د ناقانونه رایې ورکولو مخه ونیسی او ترسره کونکی یې توقیف کړي. خو دا ډیره سخته ده تر څو قضاوت وکړو چې په کومه شمیره کسان په دې توانیدلی ترڅو د تقلبی کارتونو په ګټه اخیستنې خپلې رایې و کاروی او تر نیونې لاندې رانشی. اندیښنې د رنګ د کیفیت او ثبات په اړه هغه موردونه ؤ چې په اړه یې د ټاکنو په ورځ راپورونه ورکړل شول خو اغیزې یې پر پروسې باندې تراوسه د اندازې وړ نده.

د رای پاڼو کمښت هم د ټاکنو په ورځ د هیواد په کچه ولیدل شوه- خو په هرحال تراوسه دا روښانه نده چې کوم موردونه د ټاکل شویو ناکافی محلاتو څخه ترلاسه شوی او کوم په صندوقونو کې د لاسوهنو څخه څرګندویه دي. په ځینو موردونو کې د ټاکنو کمیسیون په دې وتوانیده ترڅو احتیاطی مرستندویه محلات په کار وګماری تر څو د رایه ورکونکو غوښتنوته ځواب ووایي. حال داچې امنیتی او لوژستیکی ستونزو په شدیده توګه د نظارت کار پر ولایتی مرکزونو محدوده کړي ؤ، ټاکنیزو محلونو ته د کاندیدانو او سیاسی ګوندونو د استازو او څارونکو مناسب ؤ، آن داچې د کابل د ځینو سیمو په ټاکنیزو محلاتو کې د کاندیدانو او ګوندونو د استازو د ګڼو ګونې راپورونه هم ورکړل شول.

د ټاکنو د کارکونکو د استخدام په برخه کې د هڅو سره سره ، بيا هم وليدل شول چې د کورنيو چارو وزارت د ښځينه تلاشی کونکو د ګمارلو په برخه کې ستونزه درلوده، دغه راز د ټاکنو کميسيون هم پدې نتوانيدلی ؤ ترڅو هغو مرکزونو ته چې د ښځو لپاره ځانګړی شوی ؤ، بشپړ د ښځينه کارکونکو اړتيا څومره چې ورته ضرورت ؤ، برابر کړي البته د هغو مرکزونو لپاره چې وځارل شول.

لکه څرنګه چې د ۲۰۰۹ کال د ولسمشريزو او ولايتی شوراګانو د ټاکنو پرمهال امنيتی ستونزو د نړيوالو او کورنيو څارونکو او هم د کانديدانو او ګوندونو د استازو کړنې له ټاکنو څخه د څارنې په برخه کې د هيواد په ډيرو برخو کې له خنډ سره مخ کړې – چې دغه سيمې په شديده توګه له درغليو څخه زيانمنې شوې وې. دا ډيره ضروری ده چې د ټاکنو کارکونکی همدارنګه کورنی او نړيوال کتونکی بايد د رايو جدول بندی او د شکايتونو بهير له نږدې څخه تعقيب کړی ترڅو د قانون خلاف کارول شوې رايې او نور ټاکنيزې بې نظمی وپيژندل شی. چې دا نه يواځې شاميليږی پر لاندنيو ټکو: له احتمال څخه ليرې يو ستر رقم د رايو ورکونکو په ناامنو سيمو کې- په ټاکنيزو محلونو کې د ښځو د برخې اخيستنې يو ستر رقم- په واحد محل کې د مشکوکو کارول شويو رايو پورته شمير- او د يوه ټاکنيز مرکز د بيلابيلو محلونو تر منځ د شمير له اړخه د رايو نااندوله ويشنه. نو په دې صورت کې دا په غير مستقيم ډول د ناسمو کړنو د موندنې لپاره ښه او مناسب اسباب بلل کيږی او يکار ده چې دوی بايد يو لړ اضافی هڅې په يو لړ ځانګړيو محلاتو کې په لار واچوي.

دغه راز د ټاکنيزو ادارو په اړه بی اعتمادی يا بد ګمانی په ټاکنو کې د برخه اخيستونکو د ستړې کړی په منځ کې د پرمختګ شتون لری ، چې په اړه يې هم کانديدان، د سياسی ګوندونو مشران او نور فعالين يې، د خبريالان او افغانی اتباع انديښمن دي. دغه بی اعتمادی د تير کال ټاکنو د پراخو درغليو څخه چې پټې پاتې شوې او هم له دغه درک څخه چې د ټاکنيزو ادارو کار لکه د ټاکنو کميسيون او د ټاکنيزو شکايتونو کميسيون د سيمه ييزو ملی او سياسی شخصيتونو دلاسوهنې تر اغيز لاندې ده، سرچينه اخلی. دغې بې باوری افغانان په دغو ټاکنو کې له برخه اخيستنې څخه پرشا نکړل، خو بايد په اوږدمهال کې د دغو ادارو د خپلواکی لپاره بايد اړ اقدامات ترلاسه شی تر څو په دې توګه د ځوانې ولسواکې بهير د پرمختګ لپاره د هغو خنډونو څخه چې د دغه بهير د ملاتړ په برخه کې موجودې دي، تر ځينې ډډه وشی.

د ټاکنو بهير تر ډيره حده د جعلی او تقلبی کارتونو د شتون له امله زيانمنه شوه. دغه ستونزه وروسته د طالبانو د سقوط څخه د ۲۰۰۴ کال له ټاکنو راهيسی ، افغانان ورسره ګير پاتې دی. د رايه ورکونکو د نوم ليکنه بهير او يا خو د مدنی ثبت د اصلاح لپاره ډيره سخته اړتيا ليدل کيږی.

## ټاکنيز تاوتريخوالی:

تاوتريخوالی او او تاوتريخوالی ته ګواښ، د ټاکنو هرې برخې ته ښه ورکړه. تاوتريخوالی د هيواد په ډيرو برخو کې کانديدان د کمپاين او سياليو له د ترسره کولو په برخه کې له خنډ سره مخ کړل او د ټاکنيزو سياليو د تکنيکونو د کارولو په برخه کې يې اغيزمن کړل. تاوتريخوالی د ټاکنيزو کارکونکو د استخدام بهير له ستونزې سره مخ کړ، د ټاکنيزو مرکزونو په څرګندولو کې يې خنډ رامنځ ته کړ، د رايې ورکولو له بهيره څخه يې د هيواد له ۱۰۰۰ څخه په ډيرو مرکزونو کې ناشونی کړ او هم کورنی او نړيوال کتونکی او هم د کانديدانو څارونکی يې ډيرو محلونو ته له رسيدنې څخه منع کړل.

## د ښځو ګډون:

په سياسی بهير کې د ښځو د بشپړ ګډون په برخه کې تراوسه خنډونه شتون لری. که څه هم ښځې په بې ساري توګه د کانديدانو، ټاکنيزو څارونکو، ټاکنيزو کارکونکو او د چارواکو په توګه ګډون درلوده، خو تر ډيره پولې له ګواښ او تاوتريخوالی سره مخ شوې. د هيواد په ځينو برخو کې د ټاکنو د خپلواک کميسيون پاتې راتلل د ټاکنيزو کارونکو په توګه د ښځو د استخدام په برخې، هغه مورد دی چې رای پاڼو ته د ښځو د لاسرسی په برخه کې د يوې ستونزې په توګه ګڼل شوې په ځانګړې توګه په هغو سيمو کې چې پوره امنيت شتون نلری، ښځې د ټاکنيزو سرغړونو په وړاندې اغيزمنې دي.

**د ټاکنو اداره:**

د ولسی جرګې ټاکنو لپاره د ټاکنو د خپلواک کمیسیون تیاری تر ډیره حده نسبتاً د تیرکال ټاکنو څخه ښه والی تر لاسه کړی ؤ. د بیلګې په توګه، د ټاکنو خپلواک کمیسیون د درغلیو د کمښت لپاره څو لارې چارې تر لاس لاندې نیولې وې چې عبارت دی له : د تیرو ټاکنو د ۶۰۰۰ په شااو خوا کې د ټاکنیزو کارکونکو له کاره ګوښه کول کوم چې د ۱۳۸۸ کال په ټاکنو کې د درغلیو په ترسره کولو کې شکمن ؤ، همدارنګه په ولایتی او ولسوالیو مسوولینو د کې ادلون بدلون راوستل تر څو د هغوی بیلتون له ځایی واک او د اړیکو له شبکو څخه ډاډمن کړي، د دې امکان له منځه وړل چې رای پاڼې له یوې سیمې څخه بلې سیمې ته ولیږدول شی او هم په رای پاڼو کې د ځانګړي سریال شمیرې رامنځ ته کول ترڅو د درغلیو په ښه بربنډولو کې مرسته وکړي.

له دې سره باید یو لړ نورې هڅې د اداری مسایلو لپاره تر لاس لاندې ونیول شی. د بیلګې په توګه د ناامنیو او د درغلیو د مخنیوې لپاره د رایې ورکولو د مرکزونو په شمیر کې د لګښت او حذف مسأله مطرح شوه، خو د دې مرکزونو د تړلو خبرې ښایی د ځینو رایه ورکونکو د رایې ورکولو حق محدوده او ډیر به په دې نه وی توانیدلی تر څو د رایې ورکولو محلونو ته ولاړشی. نو ښه برنامه جوړونه کولای شی ترڅو ډاډمنه کړی چې ډیر افغانان وکولای شی خپله رایه وکاروی. په ټولیزه توګه د ټاکنیزو مرکزونو په انتخاب کې باید پوره شفافیت موجوده وي. د مثال په ډول، څرګنده نه ده چې په ټول هیواد کښې کوم معیارونه د رایې ورکولو د محلاتو د تعیین او شمیرې لپاره وکارول شول او ځینې قومونه ممکن په دې باور وی چې ګینې د مرکزونو په ټاکلو کې ځینې سیاسی ملحوظات په پام کې وی.

**ټاکنیز شکایات**

د ټاکنیزو شکایاتو کمیسیون ستر خنډونه د ټاکنو د ورځې ترمخه تجربه کړه. ولسمشر کرزی د ټاکنو قانون د ۲۰۱۰ کال د فبروری په میاشت کې د یوه فرمان پر اساس بدل کړ چې ده ته یې د اواک ورکړ ترڅو د مرکزی کمیسیون ۵ تنه غړی او ۱۱۳ تنه د ولایتی کمیسیونونو غړی وټاکي. د دې برسیره یو لړ لمړنی واکونه ولایتی ټاکنیز شکایتونو کمیسیونونو ته ورکړل شول. دغه امر د ټاکنو د شکایتونو کمیسیون ته د ولایتی کارکونکو د ګمارنې او روزنې او هم د نویو کړنلارو د جوړولو په برخه کې د ټاکنیزې دورې په پای کې سترې ستونزې رامنځ ته کړې. باید ولیدل شی چې دغه پرسونل د پوره سرچینو د نه شتون په صورت کې او هم د بې تجربې کارکونکو په درلودلو سره لوړ حجم شکایتونو ته چې د ټاکنو په ورځ او له هغه څخه وروسته درج کیږی، په خپل وخت او ناپیلتوب سره به چلند او رسیدنه وکړي او یاخیر.

**د کاندیدانو د واکونو څیړنه**

که څه هم څو تنه نوماندي سره له دې چې څو تنه یې ډیر غښتلي کاندیدان هم دي او په پراخه کچه له ملیشو سره د تړاو درلودلو ګمان پرې کیږی، خو د څوتنو په ګوتو شمار یې د غیرقانونی وسلوالو ډلو سره د غړیتوب په دلایلو، له کاندیداتوری څخه رد د صلاحیت شول. د ۲۰۱۰ کال د ټاکنو قانون د ټاکنیزو کاندیدانو د واکونو څیړنه یو کمیسیون ته چې مشرتوب یې د ټاکنو د خپلواک کمیسیون پرغاړه ده او د افغانستان امنیتی ارګانونه یې غړیتوب لری، ورکړي. خو د دغه کمیسیون کړنلارې مبهمې او سختې وې او د واکونو د څیړنې پایلې د پوښتنې وړ وې. دغسې کړنلاره چې له مخه یې د کاندیدانو د واکونو څیړنه صورت مومی، د خلکو باور پر ټاکنیز بهیر باندې کموي.

له بده مرغه څو ستونزې دي چې د ټاکنو بهیر ورسره سراو ګریوان ده لکه د رایه ورکونکو د نوم لیکنې ناقصه بهیر، د ښځو د ګډون په وړاندې خنډونه او د ټاکنو د خپلواک کمیسیون او د شکایتونو د کمیسیون د خپلواکی لپاره پوره اړتیا – چې د ۲۰۰۴ او ۲۰۰۵ کلونو رهیسي د څارونکو ډلو لخوا په مستند ډول پرې ټینګارکیږی خو تراوسه حل شوي نه ده. هراړخیز ټاکنیز اصلاحات چې د ټولو مهمو ټاکنیزو برخوالو په برکې نیونکی وي پر ټاکنو باندې د خلکو د باور د پیاوړتیا په خاطر باید ترسره شی ځکه چې ملت د ټاکنو په بهیر کې یوه مهمه برخه ده.

## ۲. وړاندیزونه:

ملی دموکراتیک انستیتوت او نورو څارګرو ډلو څو وړاندیزونه د اګست په میاشت کې وړاندې کړل چې له ټاکنو څخه څو میاشتې وروسته ومنل شول. د بیلګې په توګه د ټاکنو خپلواک کمیسیون وکړای شول چې د ټاکنیزې دورې په اوږدو کې خپله بودیجه ډېر ژر ترلاسه کړی. د ټاکنو لپاره د امنیتي پلان پرسر غور او څیړنې له ټاکنو څخه ډېر ترمخه پیل شوې او د ټاکنو خپلواک کمیسیون وکولای شول چې د ټولو مرکزونو د ځایونو امنیتی ارزونه په خپل وخت سره ترسره کړی. د دې برسیره ټولو کاندیدانو ته فرصت ورکړی شو ترڅو په هغه پروګرام کې چې د دوی د ښه پوهاوی په خاطر د ټاکنو د قانون او مقررو په اړه همدارنګه د سیالیو د کړنلارې په اړه چې ترسره شو، برخه واخلی (۱۷۰۹ تنو کاندیدانو د هیواد په کچه د کاندیدانو د پیژندګلوی په پروګرام کې برخه واخیستله). سره له دې چې کوم وړاندیز د ملی دموکراتیک انستیتوت لخوا وړاندې شوي ؤ چې باید د ټاکنو پر بهیر باندې یوه لویه څیړنه وشي، ترسره نشو. دا د خواشینی خبره ده څکه ټاکنیز اصلاحات یوه ستره اندیښنه ده. نور هغه وړاندیزونه چې د انستیتوت د څارنیز ماموریت لخوا په کال ۱۳۸۸ کې مطرح شوی ؤ، فوری اجرأتو ته اړتیا لری. دغه وړاندیزونه عبارت دی له: د ټاکنو د خپلواک کمیسیون او د ټاکنو د شکایتونو د کمیسیون د خپلواکی تأمینیدل. د نوم لیکنې د بهیر اصلاح، د واحدې نه لیږدیدونکې رایې د سیستم د وړتیا په اړه څیړنې او سترې هڅې د ټاکنیزو کارکونکو د ګمارنې په برخه کې او دهم د ټاکنو د ورځې امنیت.

لاندنی وړاندیزونه د نړیوالې مرستې په روحیه کې وړاندیز کیږی:

**ټاکنیز نظارت**

1. **ولسی جرګه باید د ټاکنو د خپلواک کمیسیون د غړو ګمارنه تایید کړي.**

د ټاکنو پر کمیسیون باندې د خلکو د باور مسأله په دې باندې ارتباط مومی چې کمیسیون په ناپیلې توګه خپلې کړنې ترسره کړي. د دغه کمیسیون ټول ۷ تنه غړی د ولسمشر لخوا پرته له دې چې مقننه قوه هغه تایید کړی او یا خو پرې نظارت ولری، ګمارل کیږی. که څه هم اوسنی د ټاکنو خپلواک کمیسیون څو د پام وړ اصلاحات ترکار لاندې ونیول او په شفافه توګه یې عمل وکړ، خو د دې لپاره چې د دغه کمیسیون له خپلواکی، ناپیلتوب او وړتیا څخه په راتلونکو ټاکنو کې ډاډ ترلاسه شی او هم له نړیوالو لارو چارو سره همغږی رامنځ ته شوی یې نو د ټاکنو د خپلواک کمیسیون د غړو د انتخاب په برخه کې د اجرایي قوې پر واکونو باندې قانونی کنترول ضروری ده. په ۲۰۰۹ کال کې ولسی جرګې یو قانون تصویب کړ چې له مخه یې د ټاکنو د خپلواک کمیسیون د غړو د ټاکلو په برخه کې، مقننې قوې ته یې د نظارت د پوره واک غوښتونکی ؤ، خو ولسمشر د دغه قانون له توشیح کولو څخه ډډه وکړه. د ټاکلو داسې بهیر چې روښانه معیارونه د ناپیلتوب، وړتیا او داسې نهاد چې په خپلواکه توګه اقدام وکړی، باید د قانونی چارچوکاټ یوه برخه وی.

2. **ولسی جرګه باید د ټاکنو د شکایتونو د کمیسیون خپلواکې لاسته راوړی.**

د ټاکنو د شکایتونو د کمیسیون اعتبار د ټاکنو خپلواک کمیسیون ته ورته د هغوی د خپلواکې او شفافې کړنې پورې تړاو لری. د ټاکنو قانون د ولسی جرګې ټاکنو له رسیدو سره سم د ولسمشری د یوه فرمان په ترڅ کې بدلون وموند چې له امله یې ولسمشر ته واک ورکړل شو ترڅو پنځه تنه د مرکزی کمیسیون غړی او ورسره ۱۱۳ د ولایتی ټاکنیز شکایتونو د کمیسیونونو غړی وټاکی. دغه اصلاح شوی قانون سره د ولسمشر له فرمانه د ولسی جرګې لخوا رد کړي شو. له واک څخه د ولسمشر کاراخیستنه او په ولایتونو کې شکایتونو ته د رسیدنې په برخه کې د نه شفافیت موضوع، په پراخه کچه دغه باور رامنځ ته کړی چې ګواکې د ټاکنیزو شکایتونو کمیسیون په خپلواکه توګه د اجراییه قوې څخه عمل نه کوی. د ټاکنیزو شکایتونو د کمیسیون د مرکزی او ولایتی غړو په ټاکنه کې، څارنه ضروری ده. دغه نظارت کیدای شی چې هم په دې توګه چې غړی یې د مقننې قوې لخوا تایید

شی او یا خو په هغه شان چي په ۲۰۰۹ کال کي د کمیسیون غړی چي د بیلابیلو ادارو لخوا لکه د بشر د حقونو د کمیسیون لخوا او یاخو د ستري محکمي لخوا معرفی شوی ؤ، صورت ومومی. د ټاکلو داسي بهیر چي روښانه معیارونه د ناپیلتوب، وړتیا او داسي نهاد چي په خپلواکه توګه اقدام وکړی، باید د قانونی چارچوکاټ یوه برخه وی

3. **ولسی جرګه باید د ټاکنو د بهیر په اړه هر اړخیزه بیا کتنه ترسره کړی.**

د ۲۰۱۰ کال د فبروری په میاشت کي ولسمشر د اساسی قانون د۷۹ مادي سره سم یوه بیړني حکم صادر کړ چي له مخه یي دسړ کال د ټاکنو قانونی چارچوکاټ ته بدلون ورکړ. ولسی جرګي دغه فرمان رد کړ، مشرانو جرګي د ولسی جرګي د دغي پریکړي په اړه د اعتراض فیصله وکړه. په دغه فرمان کي ځو ځیزونه چي له هغه ځخه د ټاکنو د خپلواک کمیسیون او هم د ټاکنیزو د شکایتونو د کمیسیون د غړو ټاکل ، د بحث وړ دی او د یوې ځیرني اړتیا په ګوته کوي. په دغي وینا کي بیان شوی وړاندیزونه هم کولای شی چي له ولسی جرګي سره د ټاکنیزو اصلاحاتو د یوه کاری دستور د جوړولو په برخه کي ورسره مرسته وکړي. د ولسی جرګي ځیرني باید د ښکیلو خواؤ د یوه غوځ اکثریت لکه د سیاسی ګوندونو او مدنی ټولنو د لیدلورو په رڼا کي ترسره شی. د راتلونکو ټاکنو لپاره نړیوالي مرستي باید د اصلاحاتو په برخه کي د هغو عیني تحلیلونو پر سر وړاوي وي ترځو ځرګنده کړی چي آیا د غه اصلاحات له نړیوالو معیارونو سره برابر دی یا خیر.

**ټاکنیز چلند**

4. **د افغانستان حکومت باید ټول هغه کسان چي د ټاکنو اړوند په تاوتریخوالیو او سرغړونو کي یي لاس درلود، په ډیره کلکه توګه تر قانونی پوښتونو لاندي راولی.**

د بلواګرو دهځو برسیره چي غوښتل یي ټاکني ګډي وډي کړي، داسي موردونه هم شته چي په ترڅ کي یي د ټاکنیزو سیالانو ملاترو په تاوتریخوالی او ویرې اچوني لاس پورې کړي. دغه پیښې او هم هغه کسان چي په سرغړونو کي لکه د تقلبی کارتونو په کارولو کي یي لاس درلوده، باید په خپل وخت تر عدلی او قضایی پوښتونو لاندي راسی ترځو یو غوځ پیام نوروته ځرګند شی چي سرغړوني په ټاکنو کي د منلو وړ ندي.

5. **د ټاکنیزو شکایتونو کمیسیون باید داسي ګامونه اوچت کړی تر ځو ډاډ ترلاسه کړی چي ولایتی دفترونه یي یوشانته کړنلارې عملی کوی او په شفافه توګه خپلی کړني ترسره کوي.**

د ټاکنیزو شکایتونو د کمیسیون په ولایتی دفترونو کي د ډک کړل شویو شکایتونو په اړه معلوماتو ته لاسرسی په بیلابیله توګه ده. د ولایتونو په کچه شکایتونو ته د اچولو کړنلاره هم یوشانته نده. د شکایتونو د کمیسیون په ولایتی دفترونو کي معلوماتو ته لاسرسی او د شکایتونو د کمیسیون په انترنیتي سایټ کي خلکو ته دا زمینه برابرول چي وکولای شی شکایتونوته د رسیدني او ځیرني معلومات تعقیب کړی چي د شکایت ډکولو ځخه پیلیږی او بیا تر وروستنی خپراوی پورې ، لاسرسی ولری. دغه امر به د ټاکنیزو شکایتونو د ځیرني په اړه د خلکو باور لانور هم زیات کړي.

6. **د رايي ورکولو محلونو ته د ښځو لاسرسی باید ښه والی پیدا کړي**

لکه د ۲۰۰۹ کال په ځیر، د ټاکنیزو ښځینه کارکونکو او تلاشی کونکو د کمبود ستونزه موجوده وه. دغه ستونزه په ځانګړې توګه په دودیزو (سنتی) برخو او هغو سیمو کي چي امنیت خرابه ؤ، ډیره حاده وه.

**7. ښه امنیت د ښځینه کاندیدانو لپاره اړینه ده.**

د کورنیو چارو وزارت دا مسوولیت پر غاړه لری ترڅو کاندیدانو ته داړه امنیت برابر کړی، خو تراوسه څو تنو ښځینه کاندیدانو شکایت کړی چې مونږ د خپل امنیت په اړه مرسته وغوښتله خو هیڅا مونږ ته مثبت ځواب رانکړ. ښځینه کاندیدانې ډیري د تاوتریخوالی هدف دی او پکار ده چې په دې اړه اوچت ګامونه واخیستل شی ترڅو د دوی خوندیتوب ډاډه کړي.

**8. د کاندیدانو د صلاحیت موضوع باید د ثابتو معیارونو او هم په خپلواکه توګه د دوی په اړه د یو لړ ځیرنو پر بنسټ چې دوی په کوم غیرقانونی وسله وال ګروپ پورې تړاو ونلری، ترسره شی.**

په افغانستان کې د ټاکنو د بهیر په اړه عامه باور، په رای پانو کې د ملیشو د یو لړ شکمنو مشرانو د شتون او هم رایه ورکونکو او سیالو کاندیدانو ته د دوی لخوا د ګواښونې له امله، کمزوره کیږی. د ټاکنو په قانون کې مندرج حکمونه چې له مخه یې په ټاکنیز بهیر کې د غیرقانونی وسلوالو ډلو غړی او مشران نه شی کولای برخه واخلی، خو د هغو ضعفونو له کبله چې په قضایی او عدلی سیستم کې موجود دي، په نامنظمه توګه تر سره کیږي. په راتلونکی باید د ټاکنیز واک ځیرنه پر یولړ روښانو معیارونو باندې ولاړ وي او د غیرقانونی وسلوالو کسانو خپلواکه پیژندګلوی په پام کې ونیول شي. د کاندیدانو د صلاحیت د ځیرنې په برخه کې په نا انډوله توګه د قانون د موادو پلی کول په خپل ذات کې د ټاکنیزو ادارو اعتبار زیانمن کوي او که چیرې د قانون حکمونه د کاندیدانو د صلاحیت د ځیرنې په منظور نشی کیدلای چې په سمه او اغیزمنه توګه پلي شی، نو متروکه د اعلان شی.

**د ټاکنو پلان جوړونه او طراحی**

**9. د نه لیږدیدونکې واحدې رایې د سیستم لپاره د یوه ښه بدیل موندل.**

د نه لیږدیدونکي واحدې رایي سیستم چې د ډیرو خپلواکو کاندیدانو لامل ګرځی ، دا ښیګڼه لري چې رایه ورکونکی په آسانی سره ور باندې پوهیږي. دغه سیستم په لمړی ځل د ۲۰۰۵ کال د پارلمانی ټاکنو څخه ترمخه کله چې د کورنې جګړو خاطرې د خلکو په ذهنونو کې لا تازه وې او سیاسی ګوندونه له جګړه مارو وسله والو سره یوشانته بلل کیدل ، تصویب کړی شو. سره له دې هم چې دغه سیستم د پارلمان او ولایتی شوراګانو د غړو د انتخاب لپاره وکارول شو، خپلې ستونزې لري. د بیلګې په توګه: نوماندان کولای شی چې یوه څوکې په ډیرو لږو رایو سره لاسته راوړی ( لکه د ۲۰۰۵ کال په ټاکنو کې یوه کاندید په کابل ولایت کې د ۰،۶ فیصدو رایوپه ترلاسه کولو سره وکړای شول چې د ولایتی شورا وروستنی څوکي خپله کړی) دغه موضوع د دې لامل کیږی ترڅو سیاسی ګوندونه ونشی کولای ترڅو د رایي ورکونکو لپاره متفاوته بدیلونه رامنځ ته کړی.

**10. ملی سرشماری باید د ممکنه حالت له رامنځ ته کیدلو سره ژر تر ژره ترسره شی.**

د بن د توافق لیک له مخې ملګرو ملتونو ته واک ورکړل شوی ؤ ترڅو د وګړو د شمیرنې پروسه په لار واچوی خو تر اوسه په دې اړه کوم کار ندی شوي. د وګړو دقیقه شمیره کولای شي چې د تقنینی ارګان د څوکیو د دقیق ویش او تخصیص په برخه کې ډیر مرستندویه واقع کیږی، دغه راز د پرمختیایی پرواګرامونو په جوړونې که هم مرسته کوی او ټاکنو ته د تیاریو په برخه کې آسانتیاوې را منځ ته کوي. د وګړو د شمیرنې پروسه د هیواد په ځینو برخو کې د امنیت د نشتوالی له امله او له دې څخه ویره چې ګواکي قومي اخ و ډب رامنځ ته نکړی، تر ډیره حده له خنډ سره مخ ده. په افغانستان کې د وګړو نه شمیرنه د دې لامل ګرځیدلې تر څو بیلابیلې ډلې د رایي ورکولو محلاتو نا برابره لاسرسی ولري.

**11. باید د رای ورکونکو د ثبت کتاب یا د مدني ثبت کتاب برابر شی.**

افغانستان هیڅ کله هم د رای ورکونکو د یو غوره فهرست چې د ټاکنیزوسرغړونو په وړاندې یو کارنده وسیله بلل کی، نده درلودلی. د ۲۰۱۰ کال د ټاکنو له رسیدو سره سم په پاکستان او افغانستان کې د رای ورکولو د جعلی کارتونو د چاپ راپورونه په پراخه کچه خپاره شول . په لوړه پیمانه د جعلی یا تقلبی کارتونو د موجودیت خبره هم د تیرکال ټاکنې په بر کې لړي او هم د ټاکنو په اوسنی بهیر باندې د خلکو د باور د کمیدو سبب ګرځی. د نړی په ډیرو هیوادونو کې د رای ورکونکو فهرست د مدني ثبت له کتاب څخه جامع جوړیږي چې نه یواځې رای ورکونکې په برکې نیسی بلکه د ټولو اوسیدونکو لپاره د هویت تذکرې هم برابروي. په افغانستان کې دواړه سیستمونه هم له لوژستیکی او هم له امنیتی خنډونو سره مخ دي. سره له دې، د راتلونکو ټاکنو لپاره دا اړینه بریښی چې یا خو د رای ورکونکو فهرست جوړ شی او یاخو د مدنی ثبت کتاب برابر شی تر څو له یوې خوا په ټاکنو کې د درغلیو د کمیدو لامل شی او هم ټاکنو ته د تیاریو په برخه کې مرسته وکړي. په دواړو حالاتو کې شفافیت او د رقیبو ډلو او هم د خلکو د ناپیلو سازمانانو ګډون او نظارت باید شتون ولری تر څو په ناقانونه توګه د پیژندګلوی کارتونو د ویش څخه مخنیوی او هم اړین امنیتی تدبیرونه په پام کې ولری.

**12. د ټاکنیزو شکایتونو کمیسیون باید یو دایمی نهاد شی.**

د ټاکنیزو شکایتونو د کمیسیون ظرفیت له دې امله چې یو موقتی نهاد دی، له خنډ سره مخامخ ده. ځکه دغه نهاد د ټاکنو له بهیر سره په کار پیل او د وروستنی پایلو له اعلان څخه دوه میاشتې وروسته، خپل کار پای ته رسوی. دغه لنډه دوره هم د کارکونکو د استخدام او روزنې، د توکو د برابریدو، د شکایتونو د څیړلو په خاطر د لیکل شویو اداری کړنلارو د تیارولو او هم د دغه کمیسیون د کار په اړه د عمومی او اغیزمنو د تبلیغاتو لپاره، پوره وخت نه برابروي.

**۳. د ټاکنو لپاره زمینه**

**د ټاکنو لپاره قانونی چارچوکاټ:**

کوم قانونی چارچوکاټ چې د ۲۰۱۰ کال د ټاکنو لپاره زمینه برابروی، عبارت دی د ۲۰۰۴ کال اساسی قانون، د ۲۰۱۰ کال د ټاکنو قانون کوم چې د ولسمشر د یوه فرمان په اساس د دغه کال د فبروری په میاشت کې تعدیل شو، د ۲۰۰۹ کال د سیاسی ګوندونو قانون او د ۲۰۱۰ کال د ټاکنو د کمیسیون او شکایتونو د کمیسیون لخوا جوړې شوې مقررې او کړنلارې دي.

د اساسی قانون د لمړی څپرکی له حکمونو سره سم، افغانستان د نړیوالو معاهدو او توافق لیکونو په شمول د بشر دحقونو د نړیوالي اعلامیې، درناوی ته ژمن دي. د بشر د حقونو ۲۱ ماده صراحت لری چې ( د حکومت اساس او منشأ د خلکو اراده ده چې د هغو ټاکنو له لارې کوم چې په دوره یي او رښتیني توګه ترسره کیږی....)

افغانستان یو لړ مهم او عمده نړیوال اسناد چې د ټاکنو د معیارونو درلودنکی دي، لاسلیک کړي. د اساسی قانون دویم فصل د ټاکنو د ترسره کیدو په خاطر د هغو اساسی حقونو او اړو مکلفیتونو څخه ملاتړ ښودلی کوم چې له نړیوالو معیارونو سره باید سم وی. دغه حقونه د " د انتخاب کیدلو او انتخابولو" او هم د بیان د آزادی حق، د اجتماعاتو د جوړولو حق ، د سفر او د سیاسی ګوندونو د جوړیدو د حق په درلودلو شاملیږی. د اساسی قانون ۱۵۶ ماده د ټاکنو د خپلواک کمیسیون د جوړیدو لپاره سرچینه بلل کیږي.

د اساسی قانون پنځم فصل، ملی شورا د یوه ستر تقنینی ارګان په توګه پیژنی. ۸۶ ماده ملی شورا له دوؤ مجلسونو څخه جوړه بولی ولسی جرګه او مشرانو جرګه. د دغه قانون ۸۳ ماده روښانه کوی چې د ولسی جرګې غړی د خلکو لخوا د مستقیمو رایو له لارې ټاکل کیږي. دغه راز په قانون کې راغلی چې د ولسی جرګې کار د پنځم کاری کال دجون په ۲۲ نیټه پای ته رسیږي او د نویو غړو د انتخاب لپاره ټاکنې له دغې نیټې څخه ترمخه د ۳۰ او ۶۰ ورځو په خلال کې باید ترسره شی.

د سږ کال په لومړیو کې د ټاکنو خپلواک کمیسیون د دې مدعی ؤ چې ټاکنې به د اساسی قانون له حکمونو سره سم په خپل وخت یعنې د مې په میاشت کې ترسره کړي. خو سره له دې د ټاکنو خپلواک کمیسیون د جنوری میاشتې په پای کې اعلان وکړ چې ټاکنې د امنیتی ، لوژستیکی او د کافی بودیجې دنه شتون د دلایلو له امله د سپتمبر میاشت ته ځنډیږي.

د افغانی نهادونو په منځ د معتبرو ټاکنو د ترسره کیدو په اړه اندیښنې هغه مهال زیادې شوی کله چې د ولسمشر لخوا یو فرمان د ۲۰۱۰ کال د فبرورۍ میاشتې په ۱۷ نیټه صادره شو او له مخه یې د ټاکنو نوی قانون نافذه کړ. د دغه فرمان د سترو بدلونونو څخه یو هم ولسمشر دا صلاحیت لاس ته راوړ چې د شکایتونو د کمیسیون پنځه واړه غړی په خپله خوښه وټاکی- هغه نهاد چې د ۲۰۰۹ کال د درغلیو په بربنډولو کې یې ستره ونډه درلوده. ولسی جرګې تقریباً د ټولو غړو په اکثریت سره دغه فرمان رد کړ. مشرانو جرګې د ولسی جرګې له پریکړې سره خپل موافقت ونه ښود او مخالف دریځ یې خپل کړ. مشرانو جرګې دلیل راوړ چې د اساسی قانون له حکمونو سره سم ملی شورا نشی کولای چې د خپل تقنینی دورې په وروستی کال د ټاکنو په قانون کې د تعدیلاتو له بحث کولو څخه منع کړی. ولسمشر کرزی دوه بهرنی غړی هر یو جوهای کریګر د سویلی افریقا د ټاکنو د خپلواک کمیسیون مشر او صدیق صفوت د عراق د ټاکنو د خپلواک کمیسیون پخوانی غړي، د ۲۰۱۰ کال د ټاکنو د شکایتونو په کمیسیون کې یې د غړو په توګه په کار وګمارل.

د ولسی جرګې ټاکنې د ټاکنو د قانون په پنځم فصل کې راغلی دي. د دغه قانون ۱۹ ماده حکم کوی چې ولسی جرګه ۲۴۹ څوکی لری چې لس څوکې یې کوچیانو ته او پاتې نورې یې ۳۴ ولایتونو ته د وګړو د شمیرې پر اساس ځانګړې کیږی. ۲۲ ماده ولایتونو ته د څوکیو د ویش په هکله څرګندونې کوي او په ولایتونو کې څوکی هغو کاندیدانو پورې تړاو مومي کومو چې ډیرې رایې یې ترلاسه کړې دي. ښځینه نوماندانو ته د څوکیو تخصیص له دغه حکم څخه مستثنی ده. که کوم منتخب کاندید ونشی کولای چې خپله څوکې ترلاسه کړی او یا د کوم دلیل پر بنسټ خپله دغه څوکې د کار پرمهال پریږدی، دغه څوکې د عین جنس( ښځه یا نر) کاندید ته چې ډیرې رایې یې ترلاسه کړی ، ورکول کیږی په دې شرط سره چې لږ تر لږه یو کال د ولسی جرګې د تقنینې دورې پای ته پاتې وي. که کاندید له عین جنس څخه نه وی نو په دې صورت کې پرته د جنسیت د موضوع هغه کاندید ته چې ډیرې رایې یې ترلاسه کړی، ورکول کیږي.

د ټاکنو د خپلواک کمیسیون جوړښت او دندې د ولسمشر په ۲۳ ګڼه فرمان او هم د ټاکنو په قانون کې روښانه شوی دی. د ټاکنو خپلواک کمیسیون ۷ تنه غړی لری چې د ولسمشر لخوا ټاکل کیږي. کمیسیون د پالیسیو په جوړولو او د ټاکنو پر تیاریو څارنه کوی. د ټاکنو خپلواک کمیسیون یوه دارالانشا لری چې ریاست یې د ټاکنو د ستر آمر پر غاړه ده او ۳۴ ولایتی دفترونه لری.

کوم سیستم چې په افغانستان کې د پارلمانی ټاکنو لپاره کارول کیږی، د نه لیږیدونکې واحدې رایې سیستم ده چې له مخه یې په یوه ټاکنیزه حوزه کې یو رای ورکونکی کولای شی چې د څو تنو کاندیدانو له منځ څخه یو تن

انتخاب کړی. دا یو غیر معموله سیستم دی چې پر افغانستان برسیره په څو محدودو هیوادونو کې لکه د اردن په هیواد کې کارول کیږی. په دې حال کې چې د نه لیږیدونکې واحدې رایې سیستم خپلواکو کاندیدانو ته دا فرصت ورپه برخه کوی چې په ټاکنو کې برخه واخلی خو ورسره یو لړ عیبونه هم لری: لکه دغه سیستم د ټاکنو لپاره ټیټ حد ټاکي( د بیلګې په توګه په کابل کې یو کاندید کولای شی چې د ۱٪ رایو په ترلاسه کولو سره ګټونکی شی.) او هم د دې لامل ګرځې ترڅو سیاسی ګوندونه له خپل ګډون څخه پښیمانه شی. د غه سیستم د ډیرو کاندیدانو د برخه اخیستلو لامل ګرځی، د مثال په توګه په کابل کې د ۳۳ څوکیو لپاره د ۶۵۰ کاندیدانو په شاوخواکې د سیالیو لپاره ودریدل. د ټاکنو سیالان له خپل ځان سره د نورو په توپیرولو کې ستونزه لری او رایه ورکونکی نشی کولای چې د کاندیدانو په انتخاب کې بامفهومه توپیر او ترجیح رامنځ ته کړي او په پایله کې قومی او شخصی مسایل په غالبه توګه د رای ورکونکو په انتخاب کې خپله ونډه لوبوي.

د ۲۰۰۹ کال د سیاسی ګوندونو قانون چې د ۲۰۰۳ کال د قانون تعدیل شوې نسخه ده ، د عدلیې په وزارت کې د ګوندونو ثبت وړاندیز او دغه ګوندونه د دې ته اړباسی ترڅو ۱۰۰۰۰ غړی لږ تر لږه له ۲۲ ولایتونو څخه ولری. پخوانی قانون دغه رقم ۷۰۰ ښودلی ؤ او تقریباً ۱۰۰ ګونده د ۲۰۰۹ کال په ټاکنو کې ثبت ؤ. د سږ کال د انتخاباتو لپاره ګوندونو دې ته اړ ؤ تر څو خپل ځانونه د نوی قانون سره سم باید په دویم ځل ځانونه ثبت کړی. له ۴۰ ګوندونو څخه ۵ ګونده چې غوښتنلیکونه یې د عدلیې وزارت ته وړاندې کړی ؤ، په دې باندې وتوانیدله چې مخکې له وخت څخه ځانونه ثبت کړی او دا فرصت یې ترلاسه کړ چې د ګوندونو نومونه یې د کاندیدانو سره په رای پاڼو کې راشي. د ملی دموکراتیک څیړنې دا په ګوته کوې چې ٪۲۵ د اوسنی پارلمان له غړو څخه چې په دویم ځل ځانونه یې کاندید کړی، په یوه بڼه له سیاسی ګوندونو سره اړیکې لری حال داچې په نویو کاندیدانو کې له لسو څخه یو تن د سیاسی ګوندونو سره په رسمی توګه اړیکه لری.

**د ټاکنو اداره**

د ۲۰۰۴ او ۲۰۰۵ کال ټاکنې د ټاکنو د ګډ دفتر لخوا چې د کارکونکو په ترکیب کې یې هم نړیوال او هم افغان کارکونکی شامل ؤ، پرمخ یووړل شوې چې ملاتړیې په ځانګړې توګه د ملګرو ملتونو لخوا کیده. له هغو ټاکنو څخه وروسته د ټاکنو د ګډ دفتر بورد له منځه ولاړ او ځای یې د ټاکنو د خپلواک کمیسیون لخوا ونیول شو. د ۲۰۰۹ کال ټاکنې په عمده توګه هغه انتخابات ؤ چې په لومړی ځل د افغانانو تر مشرتوب لاندې ترسره شول. د سږ کال ټاکنې د افغانستان د ټاکنیزو او حکومتی ادارو لخوا پلان او ترسره شوې.

کمیسیون ۷ تنه غړی لری چې د ولسمشر لخوا ټاکل شوی او اوس مهال له دغې شمیرې څخه ۲ تنه یې ښځینه غړې دي. ولسمشر د کمیسیون رییس او مرستیال یې ټاکی. غړی او د غړو نږدې خپلوان یې له سیاسی فعالیتونو څخه منع شوی دی. د فبروری په ۲۰۰۹ کې ولسی جرګې یو قانون تصویب کړ چې له مخه یې د کمیسیون غړی باید د پارلمان لخوا تایید شوی وي، خو ولسمشر دغه د خپل ویټو حق په استفادې، توشیح نکړ.

د ۲۰۰۹ کال ټاکنې د پراخو درغلیو له امله زیانمن شول او د افغانستان ټاکنیزو چارواکو د دې په خاطر چې له عین درغلیو څخه مخنیوی شوی وی، یو لړ تدابیر تر لاس لاندې ونیول. د ټاکنو خپلواک کمیسیون خپل پام د رای ورکولو او دهغو کارکونکو د ګوښه کولو پر کړنلارو کوم چې د تیر کال په درغلیو کې شامل ؤ، واړوه. دغه کمیسیون د ۶۰۰۰ کارکونکو په شاوخوا کې چې د ۲۰۰۹ کال په ټاکنو کې یې کار کاوه، په تور لست کې شامل کړل. ټول ۳۴ ولایتی مسوولین له خپلو ولایتونو څخه بهر په نورو ولایتونو کې په دنده وګمارل شول تر څو هغوی د سیمه ییزو اړیکو له فشار او ځواک څخه لیرې او دهغو له خپلواکو اجراأتو سره مرسته وکړي.د ټاکلو خپلواک کمیسیون اطلاعاتی اډه د خپلو ۳۰۲۰ ناظیمینو لپاره جوړه کړه چې د هغو عکسونه او د تذکرې

معلومات په بر کې لرى تر څو د کومې سرغړونې په صورت کې د هغوى پېژندګلوى او موندنه آسانه او عملى کړي. د ټاکنو له ورځې ترمخه د ټاکنو خپلواک کمیسیون خپل ۱۱۴ ناظمین له کاره ګوښه کړل او ۱۰۰ نورېې کله چې پردې پوه شول چې دوى له کاندیدانو سره اړیکې لرى، نورو ولسوالیو ته یې تبدیله کړل.

د ۱۲.۵ میلیونو راى پاڼو د چاپ په برخه کې کوم چې د سږ کال د ټاکنو لپاره ځانګړې شوې وې، کمیسیون یو لړ تیارى او اقدامات د جعلى چاپ پر وړاندې په پام کې نیولى ؤ. د رایوپاڼو بنډلونه او هم پخپله راى پاڼې دواړو ځانته ځانګړى سریال شمیرې درلودې. د دې لپاره چې د ټاکنیزو توکو د لیږد په برخه کې د ځیږلو امکان رامنځ ته شوى یى، د راى پاڼو خریطه او همدغه راز د لاسوهنې ښوندویه خریطه په جلا توګه کودونه پرې وهل شوى ؤ. د ټاکنو خپلواک کمیسیون د ټاکنو د ورځې لپاره د اړیکو مرکز او الکترونیکى اطلاعاتى بانک جوړ کړى ؤ ترڅو له هغو مرکزونو څخه چې خلاص شوى ؤ، څارنه وکړي او د پایلو د شمیرې له ډیریدو څخه کوم چې مرکزونه یې اصلاً خلاص شوى نه ؤ، مخنیوى وکړي. رنګ د ۲۰۱۰ کال لپاره د ډیرې کیمیاوې ذرې ( د نقرې نیتریت) درلودونکى ؤ د انسان د جلد لپاره زیانمن نه ؤ.

د سږ کال کړنلارو دغه مسأله روښانه کړه چې باید د پایلو شمیره هم په رقم او هم په حروفو د پایلو په فورمه کې ولیکل شى او د لاسوهنې د ښودلو پټې باید د پایلو په څلورو واړوکاپیو باندې ووهل شى تر څو په لیکل شویو معلوماتو کې د بدلون راوستلو امکان محدوده کړي. د هرمرکز فورمې باید په هغو کڅوړو کې چې د لاسوهنې ښوندویه دى ، کیښودل شى او د ټاکنو ولایتى مامور د آنلاین پروګرام په ذریعه د کڅوړې محتوى ثبت کړى. دغه امر د ټاکنو کارونکو ته دا امکان برابروى تر څو هر ډول بدلون کله چې فورمې د پایلو ملى مرکز ته رارسیږى، وموندى. له ولایتى دفترونو څخه د غلطو پایلو فورمې او یا د لاسوهنى ښکارندویه کڅوړې چې د ناسمو ډک شویو فورمو درلودنکى وى، د لانورو څیړنو لپاره قرنطین کیږي.

د ټاکنو خپلواک کمیسیون د هیواد په ځینو برخو کې د کارکونکو په استخدام کولو کې له خنډونو سره مخ ؤ. په ځینو ولایتونو کې لکه پکتیکا، کمیسیون د سیمې د ټیټ سواد د کچې او د وړو شرایطو کارکونکو د نه موندلو له امله دې ته اړ شو ترڅو له ګاوندو ولایتونو څخه کارکونکى په کار وکمارى. د دغې تشې د ډک کول په خاطر کمیسیون باید د خپل استخدام ستراتیژى د پوهنتونونو او نویو فارغ شویو زده کونکو پر ګمارنې باندې تمرکز وکړي. دغه ستراتیژى په ځانګړې توګه په کابل کې چیرې چې هلته د راى ورکونې د محلونو کارکونکى له ځوانانو څخه جوړ شوى ؤ، ښکارندویه وه.

له ټاکنو څخه ترمخه د ټاکنو په اړه معلومات د بیلابیلو وسایلو له خوا خپاره شول. عمومى پیامونه په پښتو او درى ژبو باندې د ۱۰ تلویزیونى کانالانو ، ۳۰ د ملى تلویزیون د تم ځایونو او د ۸۰ سیمه ییزو رادیوګانو له لارې چې ملاتړ یې د آیساف لخوا کیده ، خپاره شول. د ټاکنو خپلواک کمیسیون د راى ورکونکو لپاره د ۱۵۳۵ تنو په شاوخوا کې روزونکى په کار وګمارل تر څو په ټول هیواد کې د ټاکلیو ټیمونو له لارې راى ورکونکو ته د ټاکنو د کړنلارو په اړه خبر کړي. تر شپږو میلیونو زیاد پوسترونه، لارښودونه او د راى پاڼو نمونې چاپ او وویشل شوې. د ټاکنو خپلواک کمیسیون او یو شمیر وزارتونو د حج او اوقافو د وزارت په شمول یولړ تفاهم لیکونه لاسلیک کړل ترڅو د ټاکنو یو لړ مهم پیامونه  د ملاامامانو له لارې د جمعې په نمونځونو کې خلکو ته ابلاغ شي. ورته تفاهم لیک د کلیو د بیارغونې او پراختیا له وزارت سره لاسلیک شو تر څو ټاکنیز پیامونه د سیمه ییزو او ولایتى شوراګانو له لارې خلکو ته ورسوى.

د رایې ورکولو د مرکزونو او محلونو فهرست یوه میاشت مخکې د ټاکنو له ورځې خپور شو چې د تیرکال په پرتله یو ښه پرمختګ بلل کیږی. ځکه چې پروسږکال فهرست هغه مهال خپور شو چې ځینې خلک ۲۴ ساعته مخکې د ټاکنو له ورځې د محلاتو له ځایونو څخه بې خبره ؤ. د ۲۰۱۰ کال د مرکزونو د فهرست لپاره د افغانستان امنیتی ځواکونه د آیساف په مرسته د ګواښونو لمړنی څیړنه ترسره کړه تر څو هغه سیمې چې د رای ورکولو لپاره له پوره امنیت څخه برخمنې وې، وپیژنې. د ټاکنو خپلواک کمیسیون اعلام وکړ چې هغو سیمو ته چې د ملی اردو او ملی پولیسو تر ساتنې لاندې نه وی، ټاکنیز توکی به ونلیږی. کوم وروستنی فهرست چې د سپتمبر په ۱۸ نیټه خپور کړی شو د ۵۸۹۷ مرکزونو او ۱۸۷۶۲ محلونو درلودونکی ؤ.

ملی دفاع وزارت پرته د ټاکنو د خپلواک کمیسیون له سلا مشورې د سپتامبر په لومړی نیټه اعلان وکړ چې باید یو لړ زیات شمیر مرکزونه د بادغیس، بغلان، فاریاب ، غزنی او هلمند په ولایتونو کې پرانیستل شی او ښایی چې یو شمیر مرکزونه ورځ د مخه له ټاکنو اعلان شي. خو د ټاکنو خپلواک کمیسیون چارواکو اندیښنه څرګنده کړه چې امنیتی ځواکونه به ونشی کولای د ډیرو شمیرو مرکزونو امنیت تامین کړي. چې د محلاتو د شمیر د زیاتوالی مسأله به یو لړ غیرضروری فشارونه د کمیسیون پر چارواکو باندې چې هڅه کوی تر څو په پوره شمیره کارکونکی استخدام او وروزی، اچوی. وروسته له هغې غونډې چې د ولسمشر کرزی او د ټاکنو د خپلواک کمیسیون د مشرتابه تر منځ ترسره شوه، د سپتامبر په ۴ نیټه اعلان شوه چې د ۱۸ اګست فهرست د رای ورکولو د مرکزونو په اړه نهایی ده. که څه هم کمیسیون داحق درلود چې د امنیت د خرابیدو په صورت کې نور مرکزونه هم وتړلی.

وروسته له دې چې د ټاکنو خپلواک کمیسیون د مرکزونو فهرست اعلان کړ، په اړه یې یو لړ کاندیدانو د اعتراض غږ پورته کړ. دمثال په توګه هزاره سیاستوالو په ډاګه کړه چې په امنو سیمو کې د یولړ مرکزونو نه پرانیستل په دې مانا دي چې د دوی د خلکو له رایې ورکولو څخه مخنیوی وکړي. خو فضل احمد معنوی بیا وویل چې په یولړ امنو سیمو کې د مرکزونو نه پرانیستل په دې خاطر دی چې پروسږ کال د رایو شمیره په هغو سیمو کې ډیره کمه وه. په سویل او ختیځ کې کاندیدانو او رسنیو استدلال وکړ چې د مرکزونو تړل به د خلکو د برخې اخیستنې کچه را ټیټه کړي.

د ټاکنو خپلواک کمیسیون د ټاکنو د نظارت لپاره د کاندیدانو۳۵۵۸۱۴ استازو ته، د سیاسی ګوندونو ۱۱۹۲ ناظرینو ته، ۳۰۴ خبریالانو ته، ۱۲۵۰ کورنی کتونکو ته او ۱۰۹۰ بهرنی کتونکو ته باورلیکونه ورکړی ؤ. په پروسه کې د ناظرینو او کتونکو پراخ شتون د ټاکنو د بهیر د باور د زیاتیدو په برخه کې مرسته کوی.

**د ټاکنو شکایتونه**

د ټاکنو د شکایتونو کمیسیون د ۲۰۱۰ کال د ۶۱ مادې سره سم جوړ شو. دغه نهاد د هغو شکایتونو او اعتراضونو د څیړلو مسوولیت لری له کومه چې د ټاکنو د وروستنیو پایلو څخه تر مخه درج شوی دی. د ولسمشر فرمان د سترې محکمې ، د بشر دحقونو کمیسیون او د ملګرو ملتونو د ځانګړی استازې حق چې د دوو تنو کورنیو او درې تنه بهرنیو غړو د معرفی لپاره یې درلوده ، واخیست. په عوض کې یې دغه حق ولسمشر ته ورکړه ترڅو ټول پنځه تنه غړی پخپله معرفی کړی. درې تنه کورنی غړی او دوه تنه بهرنی غړی د ۲۰۱۰ کال د اپریل په میاشت کې په کار وګمارل شول او د دغه نهاد مقررات چې د ۲۰۰۹ کال د مقرراتو تعدیل ؤ، په هغه جوړښت باندې چې له مخه یې د ټاکنو شکایتونو کمیسیون ولایتی دفترونوته د شکایتونو په اړه لمړنی واک ورکاوه، ټینګار وکړ. د دغه کمیسیون ټول ۱۱۳ تنه ولایتی غړی هم لکه د مرکزی کمیسیون ۵ تنه غړی د ولسمشر لخوا په کار وګمارل شول.

د ټاکنو د شکایتونو کمیسیون کولای شي چې اخطار صادره کړی، د اصلاحي اقدام غوښتنه وکړی، رای پاڼي باطلې اعلان کړي یا تر پنځوسو زرو افغانیو چې تقریباً له ۱۰۰۰ امریکایی ډالرو سره سمون خوري، یو څوک جریمه کړي. کمیسیون د اهم کولای شی چې د بیا شمیرنې امر یا د کاندیدانو د لری کیدلو جواز اویا خو د لسو کلونو لپاره دټاکنو د کمیسیون په چوکاټ کې د سرغړونکو د نه ګمارني او کارکولو پریکړه وکړي. د دې برسیره د ټاکنو د شکایتونو کمیسیون کولای شی چې یو کاندید او یا حزب چې غړی یا ملاتړی یې د کومې ټاکنیزې سرغړونې مرتکب وپیژندل شی، د راتلونکو ټاکنو له سیالی څخه محرومه کړی. د غه کمیسیون دا هم کولای شی چې یوه قضیه د لانورو څیړنو لپاره د افغانستان عدلی او قضایی ارګانونو ته وسپاری.

د ۲۰۱۰ کال د ټاکنو د قانون سره سم د ټاکنو د شکایتونو کمیسیون او ولایتی دفترونه یې باید۱۲۰ ورځې د مخه له ټاکنو څخه جوړ او دوه میاشتی د ټاکنو د پایلو له تصدیق څخه وروسته ړنګ شی. د ټاکنو شکایتونو کمیسیون د یوه لنډ مهالي اداري په توګه د کارکونکو د ساتلو او هم د نهاد د تخصص موندنې په برخه کې له ستونزو سره مخ ده. د دغه کمیسیون اکثره ولایتی غړی او کارکونکی د ټاکنو د شکایتونو په برخه کې نوی دي. د بلخ ، لوګر، فراه نمیروز او پروان په ولایتونو کې یواځې یو کارکونکی د ۲۰۰۹ کال له ټاکنو څخه پاتې خو نوریې په بشپړه توګه نوی دی.

د ټاکنو د شکایتونو کمیسیون ولایتی دفترونه له سختو ستونزو سره مخ دی. د رایې ورکولو د ورځې له دورې ترمخه د ټاکنو د شکایتونو د کمیسیون ولایتی دفترونو اکثراً په مستقیمه توګه ګواښونو ترلاسه کړل ا و د دغو دفترونو غړو له دې څخه ویره درلوده چې بنایي د دفترونو د کار له پای ته رسیدو وروسته دوی به د جنګ سالارانو له غچ اخیستنې سره مخ شی. څو ولایتی دفتره د سرچینو له کموالی سره مخامخ ؤ. د کمیسیون دفتر په مزار کې دباندې له دفتره د خپلو اسنادو د کاپی کولو په خاطر له ماشینو څخه کار اخیسته چې دغه امر د محرمو موضوعاتو د ساتنې په خاطر پوره اندیښنه بلل کیده. رایه ورکونکو او نوماندانو په کندز کې چې بیلابیل قومونه په کې ژوند کوی، د ولایتی کمیسیون له جوړښت څخه چې د یوه قوم په واک کې ده، انتقاد درلوده.

د شکایتونو کمیسیون د جون په ۱۹ نیټه یو راپور د هغو ترلاسه شویو اعتراضونو په اړه خپور کړ کوم چې د نوماندانو د لمړنی لست په اړه یې ترلاسه کړي ؤ. خو له هغې نیټې څخه وروسته تراوسه پورې دغه کمیسیون کوم راپور چې څرګند کړی چې په کومه شمیره شکایتونه د دغه کمیسیون لخوا څیړل شوی او یا خو د ځنډ په حالت کې دی، نه دي خپور کړی. د رایې ورکولو د ورځې له دورې ترمخه د کمیسیون ځینو ولایتی دفترونو په ډیره لیوالتیا سره د هغو شکایتونو شمیره چې د دوی لخوا ترلاسه شوی، شریک کړل خو ځینو نورو یې د هر ډول معلوماتو په شریک کولو کې خوښ نه ؤ.

د شکایتونو د کمیسیون مقررې څرګندوی چې د کمیسیون پریکړې به په پښتو، دری او انګلیسی ژبه خپاره شی او د دغه کمیسیون د انترنیتی سایت له لارې به خلکو ته د لاسرسی وړ وګرځی. خو تر ننې نیټې هیڅ کومه پریکړه نه ده خپره شوې او اړونده سایت دا پیام وړاندې کوی چې پریکړې به په مناسب وخت کې به خپرې شی.

د رایې ورکولو له بهیر څخه ترمخه کومو رایه ورکونکو او د کاندیدانو ملاتړو چې لیواله ؤ ترڅو رسمی شکایتونه درج کړی، څرګنده کړه چې په اړه یې د شکایتونو د کمیسیون لخوا پوره لاربښونې ترلاسه نکړي. ځینو یې څرګنده کړه چې دغه ډول چلند قصدی ؤ تر څو شکایتونه درج نشي. او ځینو نورو خپله بې باوري ښودله، هغو ی څرګنده کړه چې مهمې او جدی قضیې یوې خوا ته کیښودل کیږی او پرځای یې هغو قضیو ته چې ډیرې مهمې ندي، لمړیتوب ورکول کیږی.

**د ټاکنو امنيت**

لکه د ۲۰۰۹ کال د ولسمشريزو او ولايتی شوراګانو ټاکنې دا ځل هم د سپټامبر مياشتې ټاکنو ته امنيت په درې امنيتی کمربندونو کې پلان شوي ؤ. په لمړی کربنه يا کمربند کې چې د رايې ورکولو محلونو ته تر ټولو نږدې امنيتی کړی بلل کيده، ملی پوليس ځای پرځای شول. دويم کمربند کې ملی اردو ځای پرځای او په دريم کمربند د آيساف ځواکونه چې تمه کيده تر څو د افغانستان حکومت ته د ملاتړی او مرستندويه ځواک په توګه ونډه ولوبوي او د ضرورت په وخت کې ترځينې کار واخيستل شی، ځای پر ځای شول. د نړيوالو مرستندويو ځواکونو په کمربند کې يو لړ نوری فرعي کړي چې عبارت ؤ له: د چټک غبرګون ځواکونه او همدارنګه د هوايی کشف او مراقبت ځواکونه. د رايې ورکولو د ورځې څخه وړاندې، د آيساف ځواکونو لاترمخه د خپل پلان او امنيتی تياريو په اړه کوم چې د ټاکنو په ورځ پلی شو، همدارنګه د افغان امنيتی ځواکونو سره د دوی د لانوری نږدې همکاری خبر ورکړ.

په داسې حال کې چې پوليس د بلوا او ناامنيو په وړاندې د دفاع په لمړی کربنه کې ځای پرځای شوی ؤ، د هغوی د تخصصی کيدلو بهير ډير ورو او ستونزمن پاتې شوي. د سپټامبر د ټاکنو څخه ترمخه، په افغانستان کې د اروپايی اتحاديې د پوليسو هيأت ته دنده ورکړل شوې وه تر څو د ۲۰۰۹ کال پروګرام ته ورته چې د دوی لخوا ترسره شوی ؤ، ۳۵۰۰۰ افغان پوليس د ولسواليو په کچه د ټاکنو د کړنلارو، د ټاکنو د ورځې د امنيت او د ټاکنو په ورځ د پوليسو د چلند په اړه وروزی. دغه خپرونه د کورنيو د چارو وزارت په مرسته پلې شوه چې د پوليسو لوړ پولی پوځی منسوبين هم د روزونکو په توګه په کې شامل ؤ. په افغانستان کې د اروپايی اتحاديې د پوليسو ماموريت د ټاکنو د ورځې له نږدې کيدو سره سم خپله اندېښنه څرګنده کړه چې د دوی د پروګرام موخه به د نه ځواب ويلو او د وزارت په دننه کې د اړيکو د غښتلی جوړښت د نه شتون له امله به ترلاسه نشی.

د تيرکال په شان ، سږ کال هم د رايې ورکولو د محلونو لپاره د ښځينه تلاشی کونکو په استخدام کې ستونزې موجودې وې. وروسته له يوه اوږده بحثه چې د ټاکنو د خپلواک کميسيون او د کورنيو چارو وزارت ترمنځ په دې خاطر چې کومه دولتی اداره په ۲۰۱۰ کال کې د ښځينه تلاشی کونکو مسووليت پرغاړه ولری، دغه وزارت او د سيمه ييزو ارګانونو خپلواکې اداري يو لارښود د اګست په ۲۵ لاسليک کړ چې له مخه يې له واليانو څخه غوښتنه شوې وه تر څو د مدنې ګروپونو په مرسته د ۱۰۰۰۰ ښځينه تلاشی کونکو په استخدام لاس پورې کړي. د هغه ځنډ چې د دغې پريکړې او د يوه روښانه عملياتی پلان د پلې کيدو په برخه کې رامنځ ته شو، يوازې ۴۷۵۰ ښځينه تلاشی کونکی د ټاکنو تر ورځې استخدام شوې.

د ټاکنو د ورځې تر مخه بلواګرو ډلو د طالبانو په شمول په ټول هيواد کې ګواښونه يې ترسره کړل چې غواړی د ټاکنو بهير ګډوډ کړي. په شمال کې ځينو مخالفو وسلوالو ډلو د ګلبدين د اسلامی ګوند په شمول، ټاکنې ناروا وبللې ، هغو رايه ورکونکو ته ګواښ کړی ؤ چې که چيرې په ټاکنو کې برخه واخلی، زيان به ووينې او يا خو به ووژل شی. يوې ډلې چې ځان يې طالبان معرفی کړی ؤ د شمال لويديځ فارياب ولايت په ځينو برخو کې خلک د شب نامو په خپرولو په دې باندې ګواښولی ؤ تر څو يو څو ځرګندو کانديدانو ته رايه ورکړي. د بغلان او کندز په ولايتونو کې ځينې کانديدانو په مستقيمه توګه له يو لړ وسلوالو سره چې ځانونه يې طالبان معرفی کړی ؤ اړيکې نيولې وې تر څو د رايې ورکولو په محلاتو کې خپلې حملې سپکې کړي.

ځينو مخالفو وسلوالو ډلو هم له ګواښه ډکې ويناوې خپرې کړې او له تاوتريخوالې څخه يې کار واخيست. څلور ټاکنيز نوماندې د ټاکنو د ورځې تر مخه ووژل شول او څو د کانديدانو ملاتړې وګواښول شول او مخالفو وسلوالو

ډلو د ټاکنو په ورځې د حملو په ترسره کولو وګواښول. کومو ډلو چې ځانونه يې له طالبانو سره يوځای بلل، خپل ځانګړی مخالفت يې د ښځو له ګډون سره هم ښکاره کړ. ملی دموکراتيک انستيتوت دا هم ومونډله چې يو لړ نورو ډلو هم د سپټامبر دمياشتې د ټاکنو پر پايلو باندې د اعمال نفوذ په خاطر، د يولړ کانديدانو څخه خپل ملاتړ اعلان کړ.

**د رايه ورکونکو نوم ليکنه**

ملی دموکراتيک انستيتوت د خپل تير کال څارنيز ماموريت پر مهال دا ټکي څرګند کړ چې پرته د وګړو د کره سرشميرنې، ټاکنيزو چارواکو او څارونکو ته به دا ډيره ګرانه وی چې د ميشت جميعت د شميرې او د هغو د قومی او جنسيتی ترکيب په اړه معلومات ولري. د وګړو د نه سرشميرنې په صورت کې د رايه ورکونکو د نوم ليکنې او دهغو د برخې اخيستنې پر ارقامو باندې، کنترول به ناشونې وي.

د تيرکال ټاکنو لپاره د رايو ورکونکو د نوم ليکنې بهير د زياتو جعلی کارتونو لامل وګرځيده. د ۲۰۰۵ کال له ټاکنو څخه وروسته ټاکنيزو او دولتی چارواکو پريکړه وکړه تر څو د يوه مدنی ثبت له لارې د رايو ورکونکو يو لست جوړ کړی تر څو د رايو ورکونکو د فهرست په جوړولو کې هم ترځينې کار واخلی. خو سره له دې د ۲۰۰۸ کال په وروستيو او د ۲۰۰۹ کال په سر کې د رايو ورکونکو د فهرست د تجديد لپاره په ټول هيواد کې د نوم ليکنې د بهير لپاره هڅې پيل شوې چې په ترڅ کې يې ۵،۴ ميليون نوی د رايې ورکونې کارتونه وويشل شول. له بده مرغه هيڅ ډول يو ميکانيزم په پام کې نيول شوی نه ؤ ترڅو وکولای شی د هغو اشخاصو د دويم ځلی کارت له اخيستلو څخه ډډه وکړی کوم چې په تير دور کې يې يوځل کارتونه ترلاسه کړی ؤ. دغه امر د ټاکنو د بهير زيانمنتوب د جعل او لاسوهنې په وړاندې نور هم زياتوي.
سږ کال د ټاکنو څخه تر مخه يو لړ انديښنې د هغو راپورونو له امله چې ګواکې په سويل او ختيځو سيمو کې په پاکستان کې د چاپ شويو جعلی کارتونو بيلګې ليدل شوی، زياتې شوې.

د ۲۰۱۰ کال د ټاکنو لپاره د نوم ليکنې د بهيرهڅې د جولای په ۱۲ پيل او د اګست په ۱۲ پای ته ورسيد چې په ترڅ کې يې ۳۷۶۰۸۱ خلکو نوم ليکنه وکړه. له دغه شميرې څخه ۵۲۱۴۷ ښځې او ۱۶۹۲۰ کوچې ؤ. څرنګه چې ملی دموکراتيک انستيوت تير کال هم څرګنده کړه د هيواد په ډيرو برخو کې د رايې ورکونې کارتونه ، د وګړو له تخمينی شمير څخه د هغو کسانو په شمول چې عمر يې د رای ورکولو پړاو ته نه رسيدلی، زيات ويشل شوي. په څو برخو کې سره له دې چې هلته سنتی خنډونه د ښځو پر واړندې تر اوسه حاکم دی، خو ويشل شوی کارتونه د هغوی له شميرې څخه پورته ښودل کيږی- غالباً د نارينه ؤ له شمير څخه هم پورته دي. له کومه ځايه چې عکس د ښځو په کارتونو کې لازمی نده، نو د ښځو کارتونه کيدای شی چې د ټاکنو په ورځ د تقلبی رايو په اچولو کې تر ځينې کار واخيستل شي. څرنګه چې د سپټامبر د ۱۸ نيټې له ټاکنو څخه ترمخه د دغې موضوع د څيړنې لپاره تدبيرونه په پام کې نيول شوی نه ؤ، نو دغه انديښنې د ۲۰۱۰ کال د ټاکنو په اړه په خپل ځای پاتې دي.

**د کانديدانو د صلاحيت څيړنه**

سياسی پوستونو ته د کانديدانو د صلاحيتونو د څيړنې د اصلاح بهير د ۲۰۰۴ کال د ټاکنو څخه را پديخوا په تکراری توګه وړانديز کيږی. سره له دې چې د نوماندانو د صلاحيت د څيړلو بهير له څو عمده ستونزو سره مخ ؤ، څو مياشتې يې دوام وموم. د ټاکنو د ورځې څخه ترمخه، کانديدانو د د غه بهير د شفافيت او روڼوالی په اړه شکايتونه درلودل.

د ۲۰۱۰ کال د ټاکنو قانون او د ټاکنو د کمیسیون مقررې چې د ۲۰۱۰ کال په مارچ کې په تصویب ورسیدې د ټاکنیزو کاندیدانو د صلاحیت د څیړنو د کمیسیون مبنې جوړوی. دغه کمیسیون واک لری تر څو ثابته کړه چې آیا کوم کاندید د کومې غیرقانونی وسلوالې ډلې مشری یا غړیتوب لری که خیر. دغه کمیسیون د ټاکنو د خپلواک کمیسیون، د ملی امنیت د ریاست او د کورنیو او ملی دفاع وزارتونو د استازو څخه جوړ شوی دې. دغه کمیسیون واک لری ترڅو د هغو کاندیدانو فهرست چې له غیرقانونی وسلوالو ډلو سره تړاو لری، د ټاکنو د شکایتونو کمیسیون ته وړاندې کړي. که څه هم دغه کمیسیون د هغو ادعاګانو په اړه د څیړنو واک نلری کوم چې د کاندیدانو د اړیکو په اړه دوی ته وړاندې شوې دي، خو د ټاکنو د شکایتونو کمیسیون وروستنې پریکړه د نوماند دصلاحیت د رد یا تایید لپاره اوروي.

لا پخوا د کاندیدانو د صلاحیت د څیړلو کمیسیون د ۸۳ نوماندو لست د صلاحیت د ردولو په خاطر د ټاکنو د شکایتونو کمیسیون ته ورکړی ؤ. ټولو دغو ۸۳ نوماندو استیناف غوښتنه وکړه او داسې اسناد یې برابر کړل چې د نوموړی کمیسیون پریکړه یې غلطه ثابتوله. د څیړنو کمیسیون د دې پرځای چې د دغو اسنادو په اړه څیړنې پیل کړې هغه یې په ډیرې آسانې د ټاکنو د شکایتونو کمیسیون ته وړاندې کړل. د ټاکنو د شکایتونو کمیسیون بیرته له هغوی څخه وغوښتل چې د دغو ادعاګانو په اړه څیړنه وکړی او خپل واک پرځای کړي. وروسته د څیړنو کمیسیون په دویم ځل د دغو نوماندانو او دهغوی د استیناف غوښتنې په اړه څیړنې پیل کړې چې په ترڅ کې یې ۷۸ تنو برائت ترلاسه کړ او د ۱۳ تنو نورو فهرست یې چې په کې ۸ تنه نوی کسان شامل ؤ، د ټاکنو د شکایتونو کمیسیون ته د هغوی د صلاحیت د ردولو په خاطر واستاوه.
د دغه بهیر په اړه هم کاندیدانو او هم کورنی او نړیوالو څارونکو خپله اندیښنه څرګنده کړه. وروسته ولسمشر کرزی د کاندیدانو د صلاحیت څیړنې کمیسیون خپل ته دفتر ته راوغوښت او ډیر لږ وروسته دغه کمیسیو د کاندیدانو یو بل فهرست چې داځل په کې ۲۶ تنه باید رد صلاحیت شوي وی، د ټاکنو د شکایتونو کمیسیون ته وړاندې کړ. د کاندیدانو د صلاحیت د څیړلو کمیسیون څرګنده کړه چې دا به غیرمعقوله وي که چیرې په فهرست کې نوی شامل شویو کسانو ته د استیناف غوښتنې وخت ورکړل شي؛ خو د ټاکنو د شکایتونو کمیسیون په دې ټینګار وکړ چې باید د غو کاندیدانو ته ۴۸ ساعته د استیناف غوښتنې لپاره ورکړل شي.
د ټاکنو د شکایتونو کمیسیون د جولای په ۷ نیټه څرګنده کړه چې دوی د نوماندانو د صلاحیت د څیړلو له کمیسیون څخه د ۳۱ تنو نوماندانو رسمی فهرست ترلاسه کړي چې ټول یې وروسته له دې چې په دې ونتوانیدله ترڅو پوره د استنیاف غوښتنې اسناد دوی ته وړاندې کړی، له خپل واک څخه د کاندید په توګه محروم او رد د صلاحیت شول. نوموړو کاندیدانو په دې باندې ټینګار کاوه ترڅو هغه بهیر چې په ترڅ کې یې د دوی واک وځیړل شو او دهغو حکمونو په اړه چې پرې صادر شول د هغو د استیناف غوښتنې د لارو چارو په اړه بهیر کشف کړي. ځینو کاندیدانو دا باور درلوده چې هغوی د شواهدو له امله نه بلکه د یوه سیاسی پریکړې پر بنا رد د صلاحیت شول.

د شکایتونو کمیسیون ، کاندیدان پر دوؤ عمده دلیلونو له صلاحیت څخه محروموي. ۱) داچې یو کاندید د یوې غیرقانونې وسلوالې ډلې غړیتوب او یا خو مشری پرغاړه ولري. ۲) له دولتی دندې څخه د قانون لخوا د ټاکل شوې مودې په دننه کې نه استعفا. د شکایتونو کمیسیون واک لری چې کاندیدان د نورو دلیلونو په ترڅ کې هم له واک څخه محرومه کړي. له ۸۰ تنو څخه زیات کاندیدان له ټاکنو څخه ترمخه له واک څخه لیرې شول.

**ټاکنیزې سیالي**

د سږ کال ټاکنو لپاره د ۲۵۰۰ کاندیدانو په شاوخوا کې چې نږدې ۴۰۰ تنه یې ښځینه کاندیدې وې، دولسي جرګې د ۲۴۹ څوکیو د ترلاسه کولو په خاطر یې په سیالیو لاس پورې کړ. ۹ سلو نه کاندیدان په رسمی توګه په سیاسی ګوندونو پورې اړوند ؤ- مطلق اکثریت کاندیدان خپلواکه نوماندان ؤ. ۱۹۴ او یاخو٪۷۸ کاندیدان و لسی جرګې اوسنی غړی ؤ چې خپل ځانونه یې په دویم ځل کاندید کړي ؤ. له ۳۴ ولایتونو څخه یواځې ۴ ولایته لږ ترلږه دوه څوکی لري چې د پارلمان د اوسنیو غړو لخوا چې د تګ په حالت کې دي، خلاصې پاتې دي او د ۲۳۰۰ څخه ډیرو کاندیدانو ته یې چې د ټاکنیز مقام د ترلاسه کولو په لټه کې دي، یوه جنجالی فضا رامنځ ته کړې ده.

د ټاکنو د سیالیو په بهیر کې ملی دموکراتیک انستیتوت او ناظرو ډلو د دولتی امکاناتو څخه د ناوړې ګټې اخیستنې د اتهاماتو راپور د نوماندو، د کمپاین د کارکونکو او د دولتی مامورینو لخوا په یو شمیر ولایتونو کې لکه بدخشان، هرات او ننګرهار کې ، خبر ورکړ. دغه مسأله د سیمه ییز حکومت له منابعو څخه د کاندیدانو پر کار اخیستلو شاملیږی چې د ښاروالی له کارکونکو سره اړیکې لري. د افغانستان د آزادو او عادلانه ټولټاکنو بنیاد او د افغانستان د بشر د حقونو خپلواک کمیسیون یو لړ راپورونه په دې اړه چې ولایتی چارواکو په پروان او پکتیکا ولایتونو کې له دولتی امکاناتو څخه د یولړ مشخصو کاندیدانو په ګټه د ټاکنیزو سیالیو په خاصر استفاده کړې ، خپاره کړل. د دې برسیره دغو نهادونو څرګنده کړه چې د ټاکنو خپلواک کمیسیون او ولایتی دفترونه یې د کاندیدانو په اړه چې په دغو سرغړونو کې یې لاس درلود د شکایتونو او مجازاتو د تحقیق او څیړنو په برخه کې پاتې راغلی.

لکه د تیر کال ټاکنې، د ټاکنیزو سیالیو څیره او فضا د هیواد په کچه په بیلابیلو ولایتونو کې په توپیر کې وه. په امنو سیمو کې ټاکنیزې سیالی په ښکاره توګه ترسره کیدې- په لویو - لویو ښارونو کې لکه کابل، مزارشریف او هرات ، ټاکنیزې سیالی د کاندیدانو لخوا د سترو رنګه پوسترونو د استفادې او هم د رادیو او تلویزیون له لارې د هغو د تبلیغاتو، شاهد ؤ. ځوانو سیالانو د خپل کمپاین لپاره په ځانګړې ډول په ښارونو کې له بیلابیلو وسیلو څخه لکه تیلفونی پیامونه، Face book او تویتر څخه کار واخیسته تر څو له رایه ورکونکو سره اړیکه ټینګه کړي.
په سویلی سیمو کې چیرته چې طالبانو هغه کسان چې په ټاکنو کې یې ګډون کاوه، په فعاله توګه تر خپل هدف لاندې یې راوستل، دیرې ټاکنیزې سیالی په شخصی کورونو کې ترسره شول. ښکاره ټاکنیزې سیالی محدوه وې او نوماندو له مذهبی او قومی مشرانو څخه د ملاتړ غوښتنه د پټو دروازو تر شا کوله.

<u>په لویدیځ ( هرات، فراه، غور، بادغیس او نیمروز)</u> کې کاندیدانو خپل جدی کمپیاینونه په ښارونو کې ترسره کړل خو د امنیتی ستونزو له امله پر دې ونتوانیدل تر څو خپلې سیالی په لیرې پرتو ولسوالیو کې ترسره کړي. له ټاکنو څخه ترمخه یو کاندید سره د کپاین له پنځو تنو غړو یې د هرات له ښار څخه دباندې ووژل شول. دغه موضوع د دې لامل شوه ترڅو سیمه ییز مشران په کلیوالو سیمو کې د ټاکنو د ښه امنیت لپاره د نړیوالو ځواکونو په فعاله حضور باندې ټینګار وکړي.

د نفوسو د تراکم مسأله د ټاکنیزو سیالیو د ترسره کیدو د لارو چارو د طراحی لپاره ستر عامل ؤ: د مثال په توګه له هغه ځایه چې د هرات ۲۵ سلونه په ښار کې ژوند کوی، نو ډیرو نوماندانو د خپلو سیالیو تمرکز د ولایت په مرکز پورې تړلی ؤ. د کاندیدانو ډیری شمیر ټولنیز فعالان او د غیردولتی سازمانونو مشران ؤ چې په خپلو سیالیو کې یې د خپلو اړیکو له شبکو څخه کار اخیسته. ولیدل شول چې په هرات کې سږ کال ډیری د ټاکنو سیالان، تاجران ؤ او په دې توګه یې د خپلو سیالیو مالی لګښت پوره کاوه.

ختیځ( ننګرهار، لغمان، کنړ او نورستان) کاندیدانو او رایو ورکونکو د ټاکنو د خپلواک کمیسیون لخوا د ټولو ۴۵۸ مرکزونو څخه ( چې ۱۲۲۵ محلونه کیدل) د ۸۱ مرکزونو (چې ۲۹۱ محلونو کیدل ) په لرې کیدلو سره چې دلیل یې امنیتی ستونزې څرګندې شوې، قوی غبرګونونو وښودل. د کمیسیون دغې پریکړې له ۲۲ ولسوالیو څخه ۱۴ ولسوالی په بر کې درلودې. خو شیرزاد چې له ۳۹ محلونو څخه په کې ۳۲، حصارک چې له ۵۱ څخه ۴۱ او خوګیاڼیو چې له ۶۳ څخه ۵۱ محلونه یې حذف شول، تر ټولو ډیرې اغیزمنې شوې. نوماندو پردې اندیښنه وښوده چې د مرکزونو په کمیدو سره به د رایو ورکونکو ستر جمیعت د رایې ورکولو له حق څخه به محرومه شي او د ټاکنو له خپلواک کمیسیون څخه یې وغوښتل تر څو په ډیرې شمیرې رای پاڼې پاتې خلاصو مرکزونو ته ولیږي. د ملی دموکراتیک انستیتوت تحلیل دا جوتوي که چیرې د خلګو د ګډون کچه لکه د ۲۰۰۹ کال د ټاکنو په څیر وي ، البته پرته له هغو رایو چې د تفتیش له امله له شیرزاد، خوګیاڼیو او حصارک څخه لیرې شوې، نو د رایې ورکولو په هر محل کې به ۱۰۰۰ رایه ورکونکی پاتې شي.

سویل او سویل ختیځ( کندهار، هلمند، ارزګان، زابل، خوست، پکتیا ، غزنی او پکتیکا) د تقلب د مخنیوی په خاطر سره د نویو تدبیرونو، کاندیدانو، مدنی ټولنو او سیمه ییزو رسنیو وړاندوینه کوله چې د مستندو بې نظمیو کچه به د تیر کال له بې نظمیو څخه زیاته وي. د ۶۰۰۰ کارکونکو څخه چې په تور لست کې راغلل، له ۳۰۰۰ تنو څخه زیات یې د خوست، پکتیا او پکتیکا څخه دي. سږ کال د ټاکنو خپلواک کمیسیون د ۳۰۰ تنو د ولسوالیو کارکونکو څخه یواځې۲۰ تنه کارکونکي د دغې سیمې څخه د کاندیدانو سره د اړیکو په تړاو له کاره ګوښه کړل.

امنیتی اندیښنې د ټاکنیزو سیالیو پر مهال زیاتې شوې. د جولای د میاشتې په وروستیو کې د خوست ولایت په یوه جومات کې یو کاندید د خپل ټاکنیز کمپاین پر مهال د یوه بمب د انفجار له امله ووژل شو. په پکتیکا کې شب نامې خپرې شوې او په ټاکنو کې د خلکو ګډون یې وګواښوه او دایې هم په کې څرګند کړی ؤ چې که چیرې په کوم دکان کې د کاندیدانو پوسترونه د نمایش لپاره وځړول شی، نو وبه سوځول شي.

د کندهار په ولایت کې د مخالفینو فعالیتونو، د کاندیدانو د ټاکنیزو سیالیو ترسره کول اغیزمن کړي ؤ. تیرکال کاندیدانو وکړای شول چې د ټولو ۱۷ ولسوالیو څخه له پنځلسو لیدنه وکړي او د ډیرو ټاکنیزو سیالیو فعالیتونه په مرکز کې ترسره شول. سږ کال د ناامنیو له امله ډیر کاندیدان په دې ونتوانیدله چې له خپلو کورونو څخه بهر، ټاکنیزې سیالی ترسره کړي.

شمال ختیځ ( کندز، بغلان، تخار او بدخشان) – ځینو کاندیدانو په مستقیمه توګه له بلواګرو ډلو څخه وغوښتل تر څو د بغلان او کندز ولایتونو په هغو سیمو کې چې دوی په کې کلک ملاتړ درلود، د حملو له ترسره کولو څخه لاس واخلی. نوماندانو اندیښنه څرګنده کړه چې خلک به د طالبانو هغو ګواښونو ته چې په کې ورته ویل شوی ترڅو په ټاکنو کې برخه وانخلی، غوږ کیږدی. د ملی دموکراتیک انستیتوت کارکونکو چې په سیمه کې کارکوي او د ملګرو ملتونو چارواکو دا څرګنده کړه چې دا ورته روښانه نده چې د کاندیدانو التماس تر کومه بریده بریالی واقع شوی دي که خیر.

تاوتریخوالی په شدت سره د ټاکنو لپاره تیاری له خنډ سره مخ کړې وې. ځینې وسلوالې ډلې د طالبانو، د ګلبدین د اسلامی ګوند، سیمه ییزې ملیشې او جنایتکارو ډلو په شمول په کندز او بغلان کې فعالې وې. کاندیدان او د ټاکنو کارکونکی وګواښول شول او آن دا چې و تښتول شول، له هغې جملې دوه ناظمین چې د خپلې آزادی په بدل کې یې دا ژمنه کړې وه تر څو له خپلو دندو په استعفا وکړي. ډیري کاندیدان دا ادعا کوي چې په خپلواکه توګه کاندید

شوی او له ګوندونو سره د اړیکو له درلودلو انکار کوي. په عمل کې له کاندیدانو څخه په سیمه کې درې عمده ګوندونه لکه د جمیعت ګوند، اسلامی ګوند او ملی غورځنګ ګوند، ملاتړ کوي.

شمال ( بلخ، سمنګان، فاریاب ، جوزجان او سرپل)- کاندیدان او رای ورکونکی له دې څخه اندیښنه درلوده چې که چیرې قوماندانان د ټاکنو له پایلو څخه خوښ نه وي، ملیشې ښایی د ټاکنو پر بهیر باندې خپل نفوذ اعمال کړي او ولایت به له دې څخه نور هم بې ثباته کړي. هغوی دا اندیښنه هم درلوده چې ناخوښه کاندیدان به له ټاکنو څخه وروسته له ملیشو څخه پر دولتی تاسیساتو، د ټاکنو د خپلواک کمیسیون پر دفتر او همدغه راز د رقیبو وسلوالو ډلو پرضد حملو کې کار واخلی. د سپتامبر د ۱۵ نیټې پر شپه ، وسلوالو د یوې غرنی ولسوالی له لارې پر تیریدونکې کاروان چې ټاکنیز توکي یې لیږدول، حمله وکړه. رایو ورکونکو د غه وسلوالې ډلې په سیمه کې د تاوتریخوالې پر زیاتولو تورنې کړې او څرګنده یې کړه چې د غه ډول پیښې به ځینو مشخصو ولسوالیو ته د کاندیدانو د ناظرینو او د کورنیو کتونکو له ننوتلو څخه مخنیوی وکړي او هغوی به د ټاکنو د ورځې پر فعالیتونو باندې له نظارت څخه پښیمانه کړي.

مرکزی سیمې( بامیان او دایکندي)- له ټاکنو څخه تر مخه ، کاندیدانو، سیاسی ګوندونو او د مدنې ټولنې سازمانونو د ټاکنو د خپلواک کمیسیون لخوا د ۶۸ محلونو د تړلو پر پریکړې اعتراض وکړ. د ټاکنو خپلواک کمیسیون له دغو شاملو خواؤ سره وکتل او په ډاګه یې کړه چې نوموړی محلونه یې د رایو ورکونکو د تیرکال د ټیټې کچې ګډون په خاطر تړلی. د سیاسی ګوندونو استازیو دا شکایت هم درلوده چې رایه ورکونکی پر دې باندې ونتوانیدله تر څو په نوم لیکنې کې برخه واخلی ځکه چې د ټاکنو خپلواک کمیسیون سیمې ته د نوم لیکنې سیارې ډلې را ونلیږلې. د هزاره ګانو درې عمده ګوندونه- د ملی وحدت ګوند، د اسلامی وحدت ګوند او د خلکو د اسلامې وحدت ګوند په سیمه کې خپل نفوذ لری. دغو ګوندونو خپله ستره ونډه په ټاکنیزو سیالیو کې، د مخورو او بانفوذو شخصیتونو سره د غونډو د آسانتیا په برخه او دغه راز د توکو د برابرولو په برخه کې، ولوبوله.

پایتخت (کابل)- د کابل ولایت د ۶۵۰ تنو په شاوخوا کې کاندیدانو په درلودلو سره د هیواد د ټولو کاندیدانو څخه یوه پر پنځمه برخه یې ځان ته اختصاص کړې وه. دغه کاندیدان پر ملی شخصیتونو، روښنفکرانو او د ټولنې د کوچنیو برخو پر استازیو شاملیږي چې ځینې یې له هغو ولایتونو څخه دي چیرې چې هلته امنیتی ستونزې موجودې دي او کابل ته یې نقل مکان کړي. د کاندیدانو شمیر ته په کتلو سره، رأی پاڼې په کابل کې باید ۱۴ مخه درلودي.

رایوورکونکو او کاندیدانو دا څرګنده کړه ، که څه هم کابل ولایت ته د ولسی جرګې لپاره ۳۳ څوکی ځانګړې شوي، خو هغو د ربښتینې سیالیو لپاره څو په ګوته شمار څوکې بللې. کاندیدانو او کورنی کتونکو راپور ورکړ چې په کابل ولایت کې امنیت د ټاکنیزو سیالیو د ترسره کیدلو امکان د ښار په ډیرو برخو کې ډاډمن کړي. رایه ورکونکی د کابل په کلیوالو سیمو کې د ناظرینو د شمیر پر کموالی او پر ټاکنیزو کارکونکو باندې د قومی مشرانو د نفوذ پرکارولو ، اندیښمن ؤ.

**د ښځو ګډون**

سره له دې چې په ولسی جرګه کې د ښځو استازیتوب تضمین شوي ده، خو ښځې تراوسه هم د یوه مقام د ترلاسه کولو په برخه کې له خنډونو سره مخ دي. د افغانستان اساسی قانون ۶۸ څوکې چې د ټولو څوکیو له څلورمې برخې څخه ډیرې څوکې تشکیلوي، ښځو ته ځانګړې کړي. د ښځو دغه پورته فیصدی، د افغانستان پارلمان د نړۍ له سلو څخه د ډیرو هیوادونو په کتار کې پرتله کیږی. خو سره له دې هم ښځې د دغه مقام د

ترلاسه کولو په برخه کې د ټاکنیزو سیالیو پر مهال له غټو ستونزو سره مخې وې. د سپټامبر د ټاکنو پر مهال څو تنو ښځینه نوماندانو د ټاکنیزو سیالیو پر مهال د خپلو نارینه او ښځینه سیالانو لخوا څخه د لاسوهنې او ډارونې خبر ورکړ. دغه پیښې له ژبنې بدو رد څخه پیل بیا د پوسترونو تر څیرلو او د کورنی پر غړو د فزیکی تاوتریخوالی پر موردونو شاملیږی.

په سویل او سویل ختیځ کې ډیرې ښځینه کاندیدانې د حملو له ویرې څخه پر دې ونتوانیدلې ترڅو په ښکاره ډول سیالی وکړي. په بدل کې هغو په خپلو کورونو کې په محدوده توګه دا سیالی پر مخ بوتلې. رایوورکونکو ته به يې تیلفونونه کول، خپل نارینه ملاتړي به يې قومی مشرانو ته د هغو د ملاتړ د ترلاسه کیدو په خاطر وراستول. ښځینه نوماندانې د تیلفونی ګواښونو او په منظمه توګه د خپلو پوسترونو د څیرولو او یا خو په سره رنګ باندې د هغو د بد شکل کیدلو، خبر ورکاوه. د پکتیکا په ولایت کې طالبانو یوه ښځینه نومانده یوه ورځ وروسته له دې چې خپل ځان يې د کاندیداتوری لپاره ونوماوه، وتښتول شوه او هغه يې د شپږو ورځو لپاره له ځانه سره وساتله. وروسته له دغې پیښې نوموړې نوماندې د ټاکنو د شکایتونو په کمیسیون او یا نورو ادارو کې د هر راز شکایت له درجولو څخه ، ډډه وکړه.

سره له دغو خطرونو، ډیر شمیر ښځو نوماندانو د پارلمان د څوکی د ترلاسه کولو لپاره په سیالیو لاس پورې کړ. په زابل کې له ۱۶ تنو کاندیدانو څخه ۷ تنه يې ښځې وې- چې یو اوچت تناسب په دغه ولایت کې ښیي. یوه برحاله د پارلمان غړي او اوسنیو ټاکنو ته غښتلې کاندید په کندهار کې ملی دموکراتیک انستیتوت ته وویل چې ښځینه کاندیدانو ته ګواښونه په سیاسی بهیر کې د ښځو د شاملیدو اهمیت په ډاګه کوي. ملی دموکراتیک انستیتوت دا ولیدل چې په ۲۰۱۰ کال کې ښځینه نوماندانو خپل پام دې ته اړولای ؤ تر څو له ښځینه او نارینه کاندیدانو څخه ډیرې رایې ترلاسه کړی.

د ملی دموکراتیک انستیتوت پر تحلیل په سویل کې دوه تنه ښځینه نوماندې پر سیاسی ګوندونو پورې تړاو لري. ډیرو ملی دموکراتیک انستیتوت ته وویل چې که څه هم ټاکنې تر یو لړ محدودیتونو لاندې ترسره کیږی خو بیا هم د ولسواکی یوه ستره نښه په ډاګه کوي.

## ۴. د ټاکنو ورځ

### د رایې ورکولو بهیر

د ملی دموکراتیک د کتونکو د راپورونو پر اساس، په افغانستان کې د رایوورکونکو د برخې اخیستنې بهیر د ټول هیواد په کچه متفاوته ؤ. په ښاری مرکزونو کې ، په شمال او مرکزی سیمو کې خلکو د نورو سیمو په پرتله په پراخه کچه خپلې رایې ورکړې. حال داچې په شمال ختیځ کې د خلکو ګډون د ټاکنو د ورځې د ناامنیو له رامنځ ته کیدو سره ، ډیر ژر ټیټې کچې ته ورسید. په ختیځ کې د امنیتی پیښو سره- سره ، د نارینه ؤ محلونه د جلال آباد په ښار کې بوخت پاتې شول. په سویل او سویل ختیځ کې د ګډون کچه په ځانګړی ډول د ښځو کچه د ټاکنو د ورځې په ترڅ کې ټیټه وه.

د ټاکنو د ورځې په ماښام کې، د ټاکنو خپلواک کمیسیون په خپل مطبوعاتی کنفرانس کې اعلان وکړ چې له ۵۸۱۶ د رایې ورکولو مرکزونو څخه ۵۳۵۵ مرکزونه د ټاکنو په ورځ خلاص شول. د ټاکنو د خپلواک کمیسیون له وینا سره سم ۳،۶۴۲،۴۴۴ رایو ورکونکو چې ۱،۴۲۳،۸۷۵ ښځې او ۷۹،۰۴۶ کوچیان ؤ، د ټاکنو په ورځ

کې يې برخه واخيسته. ملی دموکراتيک انستيتوت په ډاګه کوي چې د ۲۰۰۵ کال په ټاکنو کې ۶،۴ ميليونو کسانو چې ۲،۷۵۲،۰۰۰ ښځې او ۲۰۴،۰۰۰ کوچيان ؤ.

د ملی دموکراتيک انستيوت ناظرينو راپورونو څرګنده کړه چې ټاکنيزو کارکونکو په ډيرو مرکزونواو محلونو کې د رايي ورکولو له کړنلارې څخه پيروی کوله او هيڅ راز سازمان شوې او په پراخه کچه ستونزې يې نه دی ليدلي. رايه ورکونه پرته له يو څو موردونو چې په هغو کې تاوتريخوالی او د رايو ورکونکو ګډوډې وليدل شوه، پاتې نورو کې په منظمه توګه ترسره شوه. د يو څو منفرده حالاتو پرته ، ناظرينو راپور ورکړ چې ټاکنيزو چارواکو د رايي ورکونکو کارتونه په غور سره يې کتل او څيړل.

ځينې انديښنې په محلاتو کې د موادو د کيفيت په اړه ښکاره شوې. لکه د ۲۰۰۹ کال د ټاکنو په شان، په ټول هيواد کې کارکونکی د کارتونو د سوری کولو د ماشين د خرابيدو له ستونزې سره مخ شول. ټاکنيزو کارکونکو د ستونزې د حل لپاره له قيچي ګانو څخه د کارتونو د يوې څنډې د پريکيدو لپاره کار واخيست تر څو په ډاګه کړی چې نوموړی کس خپله رايه کارولې. بيا هم ناظرينو په دې اړه کوم راپور چې د رايي ورکونې بهير يې مختل اويا اغيزمن کړي وي، ورنکړ.

د رنګ سم استعمال د ټاکنو په ورځ د ډيرو برخوالو لپاره پريوې انديښنې تبديله شو. د ملی دموکراتيک انستيتوت ناظرينو له شمال، غرب او مرکزی سيمو څخه راپور ورکړ چې رنګ د رايه ورکونکو پر ګوتو د باور پر کچې نه پاتيږی. د کندز او جوزجان په ولايتونو کې د ملی دموکراتيک انستيتوت ناظرينو داسې موارد وموندل چې رايوورکونکو د ګوتو له رنګولو څخه ډډه کړې. په ځينو موردونو کې د هغوی ادعا امنيتی انديښنې او د بلواګرو لخوا د بدو پيښو توقع وه چې دوی ته معطوف ؤ. په نورو موردونو کې د انستيتوت ناظرينو دا وليدل چې رايوورکونکو خپلې ګوتې پاکولې او انستيتوت ورته راپور له کورنيو څارونکو څخه هم ترلاسه کړ. د ټاکنو د ورځې د مطبوعاتی اعلاميو په ترڅ کې د ټاکنو خپلواک کميسيون د رنګ له کيفيت څخه دفاع وکړه او وويل چې که چيرې د رنګ بوتل په سمه توګه وښورول شی نو هرو مرو به رنګ خپل کيفيت ولری. تراوسه روښانه نده چې څومره به د رنګ ستونزې د ټاکنو پر بهير باندې خپله اغيزه درلودلی وي.

د ملی دموکراتيک ناظرينو د هيواد په کچه د رأی پاڼو د کمښت راپورونه ثبت کړي. د بلخ، سمنګان، بغلان، خوست، کابل، بادغيس ، تخار، بدخشان، کنړ او ننګرهار ولايتونو څخه د ملی دموکراتيک انستيتوت ناظرينو د محلاتو د رييسانو د هغو ادعاګانو راپور ورکړی چې ګينې ۶۰۰ رای پاڼې د ماسپښين په لومړيو کې خلاصې شوې دي. ملی دموکراتيک انستيتوت يو لړ نور راپورونه د ټاکنو د خپلواک کميسيون او يولړ نورو منابعو څخه ترلاسه کړل چې په کې د ټاکنيزو حوزو کارکونکو د نورو اضافی راې پاڼو غوښتنه د رای اچونې په هماغه لومړيو ساعتونو کې کړې وه. لړ تر لږه يو راپور د ټاکنو د خپلواک کميسيون لخوا د رايو ورکونکو د هغې مظاهرې په اړه کوم چې د رأی پاڼو د کمښت له امله په لار اچول شوې وه، تاييد شوی ده. د رأی پاڼو د کمښت له امله مخکې له وخت څخه د رايي ورکولو د محلاتو بنديدل د دې لامل شوې تر څو يو شمير رای ورکونکی سرګردانه او مايوسه شي. د ملی دموکراتيک انستيتوت ناظرينو وليدل چې په ځينې موردونو کې يو لړ احتمالی محلونه پرانيستل شول تر څو د اضافی رايوورکونکو لپاره يو فرصت برابر کړي. په نورو سيمو کې لکه ننګرهار ولايت- چې هلته رايه ورکونکو ته وويل شول ترڅو بل د رايي ورکولو مرکز په نږدې ګاونډو ولسواليو کې ومونډي. تراوسه ګرانه ده تر څو ومونډو چې د پاڼو د لګښت ستونزه آيا په محلونو باندې د پاڼو د محدوديت د نوې پريکړې څخه رامنځ ته شوه که له دې څخه چې محلونه له ښاري سيمو څخه کليوالی سيموته وليږدول شول او ياخو د صندوقونو له ډک کيدو څخه.

د جعلی او تقلبی کارتونو په اړه راپورونه د هیواد له بیلابیلو برخو څخه ترلاسه شوي. دملی امنیت ریاست د ټاکنو په ورځ د ۲۲۰۰۰ جعلی کارتونو له نیول کیدو څخه ، همدارنګه د ۶۶ د لاس په لاس نیولو د موردونو راپور چې په کې نیول شویو کسانو جعلی کارتونو له ځانه سره درلودل ، خپور کړ. دملی دموکراتیک انستیتوت ناظرینو په ۱۵ ولایتونو کې (بلخ، فاریاب، بغلان، کاپیسا، هرات، ارزګان، کندز، کابل، لوګر، بامیان، دایکندی، ننګرهار، کنړ، زابل او کندهار) هغه رایه ورکونکی چې ډیري یې ښځې وې، ولیدلې چې له ځانه سره یې جعلی یا بې اعتباره کارتونه درلودل او یا خوبي له هغو څخه د استفادې په موخه هڅې وکړې. له دوو موردونو پرته، د دغو خلکو له رایې ورکولو څخه مخنیوې او د امنیتی چارواکو لخوا ونیول شول.

د رایې ورکولو د بهیر په وروستی نیم ساعت کې، د ټاکنو خپلواک کمیسیون رایه ورکول په هغو محلونو کې چې د غرمې د ۱۲ بجو څخه وروسته پرانیستل شوي ؤ، د نیم ساعت لپاره نور هم تمدید کړه. په څو ګوتو شمار موردو کې ناظرینود ځنډ د رامنځ ته کیدو په برخه کې یو لړ ستونزې ولیدلې چې د محلونو د تړلو په برخه کې د تاخیر سبب وګرځیدې. د هیواد په کچه ناظرینو دا وموندل چې اکثره ټاکنیز کارکونکی د شمیرنې له کړنلارې سره بلدتیا درلوده. په کابل کې د شمیرنې بهیر د ۶۵۰ تنو کاندیدانو د شتون په علت له پیچلتیا سره مخ وه او ددې لامل شوه ترڅو د شمیرنې بهیر د رای ورکونې د بهیر له پای څخه وروسته د څو ساعتونو لپاره دوام ومومی. په ډیرو سیمو کې د کومې عمده ستونزې راپور ورنکړل شو که څه هم د ځینو څو محدودو پیښو راپور له کابل، هرات او بامیان څخه د رای پاڼو د تطبیق په برخه کې ورکړل شوي ده. تقریباً په ۱۳ سلونه د شمیرنې بهیر چې د انستیتوت لخوا نظارت شوی، د پایلو د فورمو کاپي یا خو د کاندیدانو استازو ته ورکړل شوي او یا خو په دیوال باندې ځړول شوې دي.

غیرحزبی او د کاندیدانو ناظرین په اکثره محلاتو کې چې د هیواد په کچه نظارت شول، موجود وو. د افغانستان د آزادو او عادلانه ټولټاکنو بنیاد چې د ۷۰۰۰ تنو په شاوخواکې څارونکی یې د هیواد په کچه په څارنه ګمارلی ؤ، د ټاکنو د ورځې د ناظرینو تر ټولو لوی رقم یې جوړاوه. په کابل کې د ناظرینو او کتونکو لوی شمیر موجود ؤ. دغه امر د دې لامل شو تر څو د محلاتو رییسان په محلونو کې د دوی د پاتې کیدو وخت محدوده کړی. ملی دموکراتیک انستیتوت د ټاکنو د خپلواک کمیسیون د کارکونکو لخوا د غیرمعقولو محدودیتونو د وضع کیدلو راپور یوائې یو له سلونه هغه هم له هغو محلاتو څخه چې د انستیتوت لخوا ورڅخه نظارت شوي، لري.

**د ټاکنو په ورځ تاوتریخوالی**

د ټاکنو اړوند د تاوتریخوالی او د تاوتریخوالی د ګواښونو راپورونه د هیواد له بیلابیلو سیمو څخه ترلاسه شوي دي چې د رأی ورکونکو، د کاندیدانو د ناظرینو او د ټاکنو څخه د کتونکو پر ګډون یې اغیزې درلودې. د ټاکنو خپلواک کمیسیون د رایې ورکولو پر مرکزونو باندې د ۹۳ مستقیمو حملو او داچې ۱۵۳ مرکزونه د امنیتي پیښو او اندیښنو له امله د ټاکنو پر ورځ وتړل شول، خبر ورکړ. لږ تر لږه ۳۰ تنه ملکي کسان، د ټاکنو کارکونکی او امنیتی منسوبین ووژل شول. د آزادو او عادلانه ټولټاکنو بنیاد دوه تنه ناظرین د ټاکنو پر ورځ وتښتول شول. د ملی دموکراتیک انستیتوت کارکونکی او ناظرین په مستقیمه توګه د ځینو پیښنو لکه راکټي حملې، بمی انفجارونه، د لاسی بمونو حملې د مرکز په دننه او یاخو مرکزونو ته نږدې او د وسله والو مخالفینو او پولیسو ترمنځ د سپکو وسلو د ډزو شاهدان وو. ډیرې دغه پیښې د رایې ورکونې په بهیر کې د ځنډ، د رایې ورکولو د مرکزونو د تړل کیدو او د رای ورکونکو د ګډون د کمیدو لامل شول. انستیتوت د تاوتریخوالی یو لړ راپورونه چې د کاندیدانو د پلویانو لخوا ترسره شوی وو، هم ترلاسه کړل. د کندز ولایت د امام صاحب په ولسوالي کې له یوه مرکز څخه راپور ترلاسه شو چې د یوه کاندید پلویانو خپل سیال کاندید په دغه مرکز کې تر خپل اخ و ډب لاندې راوسته او وروسته یې د رایوورکونکو پر یوې ډلې برید وکړ. په کندهار کې یو راکټ د شکایتونو د کمیسیون پر دفتر باندې

ولړيد. د سپتامبر د ۱۸ نيټې د پېښو په اړه ، ملي دفاع وزارت د ټاکنو د خپلواک کميسيون سره په يوه ګډه مطبوعاتي ناسته کې وويل چې د ټاکنو په ورځ ۳۰۵ د بلواګري فعالتيونه ترسره شول.

د رايوورکونکو ډارونه په بيلابيلو بڼو ترسره شوه. لکه د وسلوالو کسانو لخوا د ټاکنو د کارکونکو ځورونه او يا د وسلوالو کسانو، کانديدانو او د دوی د پلويانو لخوا د رايې ورکولو په محلونو کې د زور په کارولو سره د رايې ورکونې د بهير اخلالول. داسې په پام کې نه وه چې په دې ډول سازمان ورکړل شوې د ډاراچونې پيښې رامنځ ته شی خو وليدل شوه چې پيښې په شمال ختيځ، ختيځ او په جنوب ختيځ کې ډيرې شديدې وې.

**د ښځو ګډون**

لکه تيرکال، ناظرينو خبر ورکړ چې د ښځو ګډون په دغو ټاکنو کې هم په بيلابيلو سيمو کې د پام وړ په کچه لږ ليدل شوی دی. د کارکونکو د کمښت له امله، د هيواد په کچه ځو د رايې ورکولو مرکزونو ښځينه تلاشی کونکې نه درلودې. ځو تنو افغانو ښځينه ناظرينو په ډاګه کړه چې ښايي په ښځينه محلاتو کې د نارينه ؤ کارکونکو شتون به د ښځو د رايې ورکولو په برخه کې خنډ ګرځيدلی وي. د ملی دموکراتيک انستيتوت ناظرينو په هغو مرکزونو کې چې د دوی لخوا نظارت شوي، ۱۱ سلونه ښځينه محلونو کې نارينه کارکونکی يې وليدل چې ټاکنيزې دندې يې ترسره کولې. د نارينه کارکونکو ستر تمرکز په ختيځ، سويل او سويل ختيځ کې وو.

**ټاکنيز شکايتونه**

د ټاکنو د شکايتونو کميسيون د سپتامبر د اتلسمې په ماښام اعلان وکړ چې ۱۲۶ ليکل شوی شکايتونه يې له خپل ولايتی دفترونو څخه ترلاسه کړي. دغه کميسيون دغه راز خبر ورکړ چې ۳۰۰ شکايتونه يې په شخصی او د تيلفون له لارې په خپل ولايتی دفترونو او ۱۰۰۰ شکايتونو يې په مرکزی دفتر کې درج کړي. خو دغه کميسيون څرګنده کړه چې يواځې به د ليکل شويو شکايتونو په اړه به څيړنې وکړي. د ملی دموکراتيک انستيتوت ناظرينو خبر ورکړ چې په لويو ولايتونو کې لکه هرات چې يواځې هلته د ټاکنو د شکايتونو د کميسيون ولايتی دفتر له ۴۰۰ څخه زيات ليکلي او شفاهی شکايتونه ترلاسه کړي. هغوی دغه راز څرګنده کړه چې رايوورکونکو او د کانديدانو ناظرينو ته د انفرادی پيښنو په اړه د شکايتونو فورمې ، د ټاکنو د خپلواک کميسيون د کارکونکو لخوا ورنکړل شوې.

**له ټاکنو څخه د څارنې ماموريت او دهغه فعاليتونه**

له ټاکنو څخه دقيقه او پوره ارزونه بايد د ټاکنو ټول ابعاد په پام کې ولري او نشی کيدای چې ټاکنې له هغه سياسی بستر څخه چې په ترڅ کې يې ټاکنې ترسره کيږی، په مجزا توګه وڅيړو. کوم عاملونه چې بايد وڅيړل شی عبارت دی له: دټاکنو لپاره قانونی چارچوکاټ چې د اساسی قانون لخوا ټاکل کيږی - د ټاکنو د قانون په شمول؛ د پوره او دقيقو معلوماتو د ترلاسه کولو په برخه کې د خلکو توانايی تر څو د هغو پر بنسټ وکولای شی سياسی ټاکنې ترسره کړي؛ د سياسی سيالانو لپاره دا فرصت چې وکولای شی له خلکو سره اړيکې ټينګې کړي او دهغوی ملاتړ ترلاسه کړي؛ رسنيو ته د کانديدانو لاسرسی او دهغو د ټاکنيزو موضوعاتو پوښښ؛ دخلکو او سياسی سيالانو لپاره هغه آزادی چې له امله يې وکولای شی په سياسی او ټاکنيز بهير کې پرته له کومې ويرې، تاوتريخوالی او غچ اخيستنې دخپل انتخاب لپاره ، برخه واخلی؛ رايو ورکونکو ته د نوم ليکنې فرصت برابرول ؛ د نوماندی حق ؛ رای ورکول، رايې شميرل، د پايلو جدول بندی، د پايلو ليږد او اعلان؛ د ټاکنيزو

شکایتونو څیړنه ؛ او دهغو کسانو ټاکنه چې په حق سره انتخاب شوي. باید ووایو چې هیڅ ټاکنیز چوکاټ بشپړ ندي او ټول ټاکنیز او سیاسی بهیرونه له خنډونو سره مخ کیږی.

ملی دموکراتیک انستیتوت له رایوورکونکو، ټاکنیزو چارواکو، نوماندانو، د سیاسی ګوندونو له مشرانو، له کورنی کتونکو او مدنی فعالینو څخه د دوی د مرستي په خاطر مننديه او ترې ستاینه کوي.

**د اړیکو لپاره معلومات**

د ډیرو معلوماتو د ترلاسه کولو لپاره مهربانی وکړی له لاندنیو کسانو سره اړیکه ونیسی:
په کابل کې اندی ایم، اې کمپبیل- د اړیکه شمیره ۰۰۹۳۷۹۸۱۳۷۰۲۳ – ایمیل acampbell@ndi.org
او یا خو له یوسف رشید سره په ۰۰۹۳۷۹۶۵۳۴۹۸۶ – ایمیل آدرس: yrashid@ndi.org
او په واشنګتن دی سی کې له کاتی ګیست سره په دې اړیکه – ۰۰۹۳۷۹۶۰۷۴۶۰۸ – ایمیل kgest@ndi.org اړیکه ټینګه کړي